هفته نامه

دجهاد هنداره

مـرآة الجـهـاد

لومړي کال ، ۵۲ گڼه، چهارشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش کال دسنبلې ۲۰

PROPERTY OF ACKU

گروپي ازافسران نظامي روسيه درامريکا تربيه خواهند شد

مسکو ، ۱۸سنبله :

طبق اطلاعات رسيده از مسکوروابط وتعلقات روسيه وامريکا بحدي پيشرفت نموده که اکنون قرار است يک گروپ ازافسران نظامي روسيه بخاطر کسب تربيت عازم امريکا گردند .

اطلاعات مذکور مي افزايد تعداد اين افسران (۳۸) تن است که مربوط قواي مرکزي ارتش ، پوهنتون هاي نظامي و وزارت دفاع مي باشد وبراي ۱۵ روز طي کورسهاي مختلفي انها نقش گانگريس امريکا در سياست دفاعي ان کشور وچگونگي اتحاد تصاميم امنيت ملي درامريکا را مشاهده خواهند کرد .

دپکتيااوپکتيکا ولايتونو دجهادي قوماندانانو د سيمه ايزو شوراگانو عمومي غونډه وشوه

په ۳ مخ کي

په هرات کي درژيم درې نظامي کنډکونه فتحه شول

په ٦ مخ کي

الحاج مولانا جلال الدين حقاني دمجاهد غږ راډيو ددوهمی لومړي ستډيو دپرانيستنی په مراسمو کی:

دسنگردمجاهدينو په څيرهغه مؤمن ليکوال هم په جهاد کي شامل دي چې دمجاهدينو خبرونه او کارنامې ليکي اوداخبار،مجلې او راډيو له لارې يې خپروي

په ۳ مخ کې

په پکتيا کی درژيم نظامی مرکزونه تر بريد لاندی ونيول شول

پکتيا ، ميډيا :

په پيښور کی دمجاهدينو خبر ځای دپکتيا له ولايت نه ميډيا ته رپوټ ورکړی چی مجاهدينو ددرندو وسلو څخه په استفادی سره په گرديز کی دکوتل تيره دسيمی پر پوستو يو لړ عمليات ترسره کړل چی دهغی په نتيجه کی دکابل رژيم يو زيات شمير عسکراو مليشه مړه،يوه دوسلو اومهماتو ډيپو او څو پوځی ځالی له منځه وړل شوی اوددښمن قواو ته درانده مالی او ځانی تاوانونه اوړيدلی دی.

دخبر ځای ديو بل خبر له مخی دکابل رژيم توپچی قواو دگرديز ښار په شاوخوا کی دمجاهدينو پر مرکزونو سختی ډزی وکړی چی پکی دمجاهدينو څخه دری تنه شهيدان اودری تنه ټپيان شوی اوهم مجاهدينو ته يوه اندازه مالی تاوان اوړيدلی دی .

په غزنی کی يوه هليکوپټر الوتکه نسکوره شوه

غزنی ، ميډيا :

دغزنی له ولايت نه ميډيا ته رپوټ ورکړ شوی چی مجاهدينو دغزنی په ۱٤ می فرقی اودښار پرپوځی مرکزونو ددرندو وسلو ډزی وکړی چی په فرقه کی موجود يوه هليکوپټرالوتکه چی دالوتنی په حال کی ولگيدله او دروضه دکلی په خوا کی پريوته چی ورروسته يی اور واخيست او وسوځيده .

رپوټ زياتوی چی دنوموړی الوتکی عمله ټوله له منځه تللی دی .

دپاکستان دهوايی قواو يوه جيټ الوتکه راوغورځيده

حيات اباد ، دجهاد هنداری خبريال :

دسنبلی ۱۷ مه :

دجهاد هنداری خبريال خبر راکوی دسنبلی په ۱۷ مه نيټه په حيات آباد کی دپاکستان دهوايی قواو يوه ميراج ډوله نظامی الوتکه په ناڅاپی توگه وغورځيده چی په نتيجه کی دالوتکی پيلوټ هلاك او دوه تنه نور لاروی چې په دغو تړدو کورونو کی يی مزدوری کوله دالوتکی دراغورځيدو له امله سخت ټپيان شول.ويل شوی چی د الوتکه په تمرينی الوتنه مصروفه وه .

روسی پوځونه دی بی له کوم ځنډ نه ووځی

ريگالتويا ، دسنبلی ۱۷ مه :

دنړيوالو خبری منابعو دخبرونو له مخی له روسی څخه جلا شويو دريوارو ايالاتونو لتويا ، لتوانيا ، او استونيا له دغه هيوادڅخه په کلکه غوښتنه کړی چی خپل پوځونه دی سمدلاسه ددوی له هيوادونو څخه وباسی.ويل کيږی چی پدغو دريو وارو جمهوريتونو کی دروسي له څلور لکو څخه زيات پوځ پروت دی .

دلتويا جمهور رئيس ويلی دی چی گورباچوف له ماسره ژمنه کړی وه چی پدغه معامله به له خبرو اترو څخه پرته سمدلاسه کار پيل کيږی .

شهر ازاد تالقان هدف بمباردمان طيارات رژيم قرار گرفت

تخار :

به گزارش دفتر سياسی شورای قوماندانان وبه نقل از پيغام راديويی احمد شاه مسعود رئيس شورای نظار جمعيت اسلامی طيارات رژيم صبح روز ۱۳ سنبله يکبار ديگر دست به بمباران شهر تالقان زدند که عده از شهريان بی گناه کشته وعده ديگرمجروح شده است .

طبق اطلاع دراين بمباران که ساعت ۹ و ۱۵ دقيقه صبح آغاز گرديد بم های اتش زا بر شهر تالقان وحومه آن پرتاب شد که نسبت ادامه آن رقم دقيق تلفات تاکنون معلوم نگرديده است .

خبر مذکور می افزايد طی اين بمباردمان نماينده يك مؤسسه خيريه بين المللی در شهر تالقان مجروح گرديده است .

درژيم۱۲ تنه مليشه مجاهدينو ته تسليم شول

ميدان ښار ، ميډيا :

دوردگو اوميدان له ولايت نه ميډيا خبريال رپوټ ورکړی چی دکابل رژيم ۱۲ تنه مليشه د۱۵ ميله کلاشينکوفونو اويوه اندازه مهماتو سره دسنبلی په ۹ مه نيټه په ميدان ښار کی دڅهار بند له پوستی نه تښتيدلی او مجاهدينو ته تسليم شوی دی .

ديادولو وړده چی دمجاهدينو له خوا داسلامی عفوی داعلان نه ورروسته دکابل رژيم دپلويانو تسليميدل پرله پسی دوام لری چی دی کار درژيم واکداران سخت اندیښمن کريدی .

دکابل رژيم ۱۲ تنه مجاهدينو ته تسليم شول

جوزجان ، ميډيا :

دمجاهدينو يو خبر ځای دجوزجان له ولايت نه ديوه راډيويی پيغام په حواله ميډيا ته رپوټ ورکړ چی دمجاهدينو دعمومی عفوی څخه په استفادی سره دکابل رژيم ۱۲ تنه مليشه ددوست محمد په مشری،دسنبلی په ۷ مه نيټه دجوزجان ولايت دسرپل دولسوالی سره نږدی دخواجه ارچغ دقرارگاه مجاهدينو ته ځانونه تسليم کړی دی .

رپوټ وايی نوموړيو مليشه ؤ ۱۲ ميله کلاشينکوفونه اويوه اندازه مهمات اولوژستيکی مواد هم له ځانه سره راوړی او مجاهدينو ته يی سپارلی دی .

درگيری های شديد بين قوای مليشه وخارندوی در کندز

کندز ، ميديا :

يك منبع جهادی ازکندز خبر ميدهد مليشه های بدنام رشيد دوستم وافراد څارندوی رژيم کابل در کندز برسر تقسيم اموال غارت شده مردم بتاريخ ۱۲ سنبله بجان هم افتادند .

راپور می افزايد درين درگيری که از سلاح های سبك وسنگين عليه يکديگر استفاده گرديد ۲۱ نفر ازافراد رشيد دوستم و ۸ نفر نفر از قوای څارندوی هلاك شده اند.

همچنان ۱۲ نفر از مليشه های دوستم و ٦ نفر افراد څارندوی شديدا جراحات برداشته ، يك تانك ويك عراده موتر گاز ٦٦ طعمه حريق شده است .

مليشه های رشيد دوستم در گذشته بارها با قوای مسلح رژيم ،څارندوی ومليشه های کيان وعصمت مسلم در نقاط مختلف افغانستان در گيری های داشته وبسياری افرادش ضمن ان از بين رفته اند .

دمارشل اخرو مونيف له مړه جسد څخه چادريشی ايستلی ده

مسکو ، دسنبلی ١٦ مه :

دمسکو ديوی ورځپانی دخبر له مخی نامعلومو کسانو دسرگی مارشل اخرو مونيف قبرلوڅ کړی اودده له جسد څخه يی دريشی ويستلی ده.مارشل مونيف دهغو دريو کسانو له جملی څخه دی چی دناکامی کودتا څخه ورروسته يی خپل ځانونه پخپله وژلی ووخبر ځای زياتوی دچهارشنبی په شپه نامعلومو کسانو دغه کار کړيدی .

دده په قبر ولاړ پهره داران وايی چی موږ هيڅوك هم دقبر په لوڅولو ندی ليدلی. په دی برخه کی دځنو خلکو نظر دادی چی دمارشل څخه دريشی ويستل هسی يوه سياسی لوبه ده .

سرمقاله

دافغانستان دقضيې دحل په نوم دسياسی هلو ځلو دلړۍ نوې کړۍ

له يوی خوا دافغانستان دقضيی دسياسی حل په اړه دملگرو ملتونود پنځه فقريزه طرحی دوراندی کيدو په تعقيب په اسلام آباد کی ددری اړخيزو خبرو اترو لړۍ پيل شوه چی په هغی کی دايران اوپاکستان په شمول ځينو جهادی تنظيمونو هم برخه درلوده ، اوترهغه وروسته په اسلام اباد کی دمجاهدينو له استازيو سره دروسانو ديو لوړ رتبه هيئت مستقيمی خبری اتری اوبيا په دی لړ کی څو ورځی دمخه دايران په مرکز تهران کی ددری اړخيزو خبرواترو دويم پړاو او په نتيجه کی گډه اعلاميه،همدارنگه دتيری چهارشنبی په ورځ کابل ته دملگرو ملتونو دسرمنشی خاص استازی بينن سيوان سفر اودهغی په ترڅ کی دمزدور رژيم له مشر نجيب سره ليدنه کتنه اوداسی څرگندونی چی گوندی دسرمنشی خاص استازی په نظر کی لری چی تهران اواسلام اباد ته سفرونه وکړی اوپه دغو هيوادونو کی دميشتو جهادی تنظيمونو له استازيو سره وگوری اوهغوی دقضيی دسياسی حل په رابطه دشريو پرمختگونو اوانکشافاتو څخه خبر کړی.

په ۸ مخ

دابوجندل (رض) دغنډ قوماندان حاجي نيك محمد له جهاد هنداري سره په مرکه کي :

زموږ مجاهدينو چې دخوست په ستره فتحه کې څومره افتخارات گټلي دي انشاألله دگرديز په فتحه کې به يې ترهغې زيات په برخه شي

په،۷، مخ

په لغمان کی درژيم (١٤) تنه وژل شوي

لغمان ميډيا:

دلغمان ولايت نه په رارسيدلی رپوټونو کی ويل شوی چی مجاهدينو دلغمان ولايت مرکز مهترلام په ښار يولړ عمليات ترسره کړل چی دهغه په نتيجه کی درژيم دپلويانو څخه ١٤ تنه مليشه مړه (۱۷) تنه ټپيان يود (بی ام ۱۲) دستگاه ويجاړه،يوه عراده په مهماتو بارلاری تخريب شوه.

زموږ پاڅون کومه قومي ، قبيلوي اوسياسي شخړه نده،بلکه دخدای (ج) درضا اواعلاي کلمة الله په لاره کی شرعي جهاد دی (الحاج حقاني)

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني

دتأسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

دسنگرد مجاهدینو په څیرهغه مؤمن لیکوال هم په جهاد کي شامل دي چي دمجاهدینو خبرونه او کارنامې لیکي اوداخبار، مجلې او راډیو له لارې یې خپروي

میرا ننګا : دجهاد هنداری خبریال :

دروان کال دسنبلی دمیاشتی په ۱۳مه نیټه دچهارشنبی په ماښام ده مجاهد غږ راډیو» دوهمی لویی ستډیو دپرانستلو په مناسبت ددغه راډیو داداری له خوا یوه غونډه جوړه شوی وه چی په هغی کی پیاوړی مجاهد الحاج مولاناجلال الدین حقانی او دمجاهد غږ راډیو لوی مدیر مولانامحمد اسحق نظامی دراډیو او نشراتو داهمیت په هکله ارزښتناکه وېناوی وکړی .
زموږ خبریال خبرراکوی چی غونډه دماښام په اوه نیمو بجو دفقیر محمد «درویش » له خوا دقرآن عظیم الشان دځو مبارکو آیاتوپه تلاوت پیل شوه چی وروسته بیا مولانامحمداسحق نظامی خپله وینا واوروله .
نظامی صاحب دخپلو خبرو په ترڅ کی دراډیو یی خپرونو ددینی اهمیت په هکله وویل :« که دراډیو او نشراتو ټولی تبصری شعرونه او نور مطالب په اسلامی روحیه او داسلامی اصولو مطابق وی نه یوازی داچی په دنیاکی به له ډیروامتیازاتو څخه برخمن وی بلکه دآخرت لپاره هم پدی شرط چی مقصد او هدف یی دالله (ج) درضا حاصلول وی نه ختمیدونکی ذخیره گرځی »
مولانا «نظامی » دخپلو خبرو په دوام زیاته کړه:
« ددنیاله راپیداکیدوراپدیخوا تر ننه پوری دحق او باطل تر منځ جگړه روانه ده اوداجگړه به دقیامت تر وروځی پوری دوام ولری . پدی اوږده موده کی جگړې تل دوه اړخونه درلودلی ، پدی معنی چی یوه توده جگړه ده بله سړه جگړه ، چی دغه دواړه اړخه یو دبل لپاره لازم او ملزوم دی او هیڅ کله نه سره جلاکیږی .
دجگړې تودا ړخ هغه دی چی ددښمن دله منځه وړلو لپاره دانسانی قوت او بیلابیلو مادی وسایلو څخه کار اخیستل کیږی ، او دجگړې سوړ اړخ هغه دی ، چی دهغی په وسیله ددښمن دمورال دټیټولو هڅه کیږی ، چی په هغی کی دنشراتو څخه لکه راډیو ، اخبار ، مجلی او شبنامی کاراخیستل کیږی . چی دجگړې دغه اړخ هم خورا مهم او ضروری دی . »
دمولانا نظامی تروینا او مقدماتی خبرو وروسته دجهادی سنگر اتل مشر الحاج مولاناجلال الدین حقانی خپله عالمانه وینا وکړه محقانی صاحب دقران عظیم الشان دځو مبارکو آیاتو نو ترتلاوت او دلوی خدای ترحمد او ثنا وروسته دراډیویی نشراتو په اهمیت داسی رڼا واچوله :
«نن ورځ او نننیو حالاتو کی دراډیو او نشراتو څخه کار اخیستل او ددی وسایلو په کار اچونه دراډیو له څپو څخه دمسلمان ملت غوږ ونو ته دحقایقو رسول ، او دوخت په ضروریاتو او مکلفیاتو باندی دمسلمانانو پوهول ، ددښمن دپوچو تبلیغاتو او دسایسو څخه دمسلمانانو خبرول ، دخورا زیات اهمیت وړدی .
او پهمدی خاطرده چی موږ دراډیو گانو او دهغو دبیلابیلو ستډیوگانو دفعالولو لپاره کوششونه کړی . او هغی ته موخاصه توجه درلودلی ده،ددی راډیو گانو دپروگرامونو په وسیله په منطقه کی زموږ مجاهد ین ډیر پرمختللی او ددښمن تبلیغات او توطئی دخدای (ج) په فضل دهمدی نشراتو په وسیله شنډی شوی دی . »
الحاج حقانی دخپلو خبرو په یوه برخه کی وویل :
« داسلام په مقدس دین کی یوازی هغه کس ته مجاهد نه ویل کیږی ، چی دټوپك په وسیله په سنگرکی له دښمن سره جنگیږی بلکه هغه مؤمن وگړی هم په جهاد کی شامل دی چی دسنگر دمجاهدینو خبرونه او احوالونه اخلی . او هغه داخبار ، مجلی یاراډیو له لاری خپروی ، خلك جهاد ته تشویقوی ، دکفاروا و ملحدینو دسایس افشاء کوی ، داهغه مرتبه لری لکه چی حضرت حسان (رض) او نوروصحابه وُته چی دجهاد په ترغیب او دکفارو په مذمت به یی اشعارویل ، او رسول کریم (ص) به ورته ویل چی ستاسی دااشعار ترهغه توری او غشی نه چی دکفارو پرسینه لگیږی ، ډیر سخت او کلك دی »
حقانی صاحب دخپلو خبروپه ترڅ کی وویل : «رسول کریم (ص) فرمایلی دی : کوم خلك چی زمامجلس ته یادیوه عالم مجلس ته راځی ، او وعظ او خبروته غوږ نیسی ، او یاله چاڅخه کومه علمی خبره اوری په کار ده چی دغه خبره ، درس یاموعظه هغه کسانو ته هم ورسوی چی په دی مجلس کی نشته یا غائبین دی . نو لدی امله پرموږ لازمه ده چی دمجاهدینوخبرونه دسنگرخبرونه دراډیو ، اخبار او نورو نشراتو له لاری هغه خلکوته چی لدی ځای څخه لری پراته دی ورسوو.»
دجهاد هنداری خبریال لیکی : دغه غونډه چی دمجاهد غږ راډیو دنویی ستډیو دافتتاح په مناسبت جوړه شوی وه ، دماښام په اته نیمو بجو دالحاج حقانی دوینا په ختمیدو سره پای ته ورسیده.

همدي راديو گانو دپروگرامونو په وسيله په منطقه كي زمور مجاهدين دير پرمخ تللي اوددسمن تبليغات اوتوطيي دخداي (ج) په فضل دهمدي نشراتو په وسيله شندي شوي دي

رسول کریم (ص) فرمایلي دي کوم خلك چي زما مجلس ته یادیوه عالم مجلس ته راځي، وعظ اوخبرو ته غوږنیسي ، اویاله چاڅخه کومه علمي خبره اوري په کارده چي دغه خبره درس یاموعظ هغه کسانو ته هم ورسوي چي پدي مجلس کي نشته یا غائبین دي

دپکتیا اوپکتیکا دجهاد قوماندانانو سیمه ایزو شوراگانو عمومي غونډه وشوه

پکتیا ، دسنبلي ۱۵:
دپکتیا ولایت دخوست له لویي ولسوالي څخه دجهادهنداري خبریال خبرراکوي چي دپکتیا اوپکتیکا ولایتو دقوماندانانو دسیمه ایزو شوراگانو گډه غونډه دسنبلي دمیاشتي په ۱۵ نیټه دالحاج مولوي جلال الدین حقاني په یوه جهادي مرکز «ژوره » کي جوړه شوه.
خبریال زیاتوي په دغه غونډه کي چي دري ورځي یې دوام درلود ، داوو جهادي تنظیمو مربوط دنوموړو سیمو سلو تنو مشهورو جهادي قوماندانانو برخه درلوده ، اودبیلابیلو غونډو په ترڅ کي یې دجهاد اومجاهدینو پوري اړوندو مسایلو په هکله ژوربحثونه وکړل ، اویو لړپریکړې یې صادري کړي.
خبریال لیکي چي په دغه شوراکي پریکړه وشوه چي دغه شورادي په دوو برخو وویشل شي چي یوه برخه به یې دخوست دامنیت اوپه مجاهدینو پوري اړونده چاري سمبالوي اوبله برخه به یې پر گردیز اونورو سیمو کي دیو مخیزو اوگډو عملیاتو قومانده کنترول اوڅارنه په غاړه لري .
همدارنگه په دغه غونډه کي پر گردیز ، غزني ، لوگر اودکابل شاوخوا سیمو کي دجهادي عملیاتو دپیلامي ادامي اوچټکتیا په اړه دبرخه والو له خوا خبري اتري وشوي اولازم تصمیمونه ونیول شول .

په روسیه کی دکمونیزم له ماتی وروسته دافغانستان مسأله

سمیع الله « تازه »

په شوروی روسیه کی دکمونستانو دکودتاله ماتی وروسته په هغه هیواد کی ډیر بنیادی اوستر بدلونونه یو په بل پسی رامنځته کیږی چی هریوبه یی دروسی په اوسنی او راتلونکی حالاتو باندی ډیراثر واچوی،چی یو له هغو څخه دروس کمونست گوند اوپه روسیه کی دکمونستی نظام له بیخه نړیدل دي .
په روسیه کی کمونستانو څه د پاسه اویا کاله دروسيې په خلکو باندی دخپل ناروا حکومت دټپلو له پاره ډیرناروا ظلمونه کړیدی او دملیونو خلکو په ککرېو باندی یی دظلم او ستم کمونستی نظام جوړکړ .
دروس خلکو دکمونستی فاسد نظام په دوره کی خپل استعدادونه اوشته له لاسه ورکړل پدی نظام کی ټول واك یوازی دکمونستانو په لاس کی وو اوهغوی رسماً دروس دملیونو پرگنو حاکمان بلل کیدل .
خود کمونستانو دوروستی کودتا له ناکامی وروسته دروس دخلکو قهراو غصه راوپاریده اوټول خلك دکمونستانو په ضد راپاڅیدل ، اوداکرکه ترهغه حده وه چی خپله گرباچوف هم دخلکو دفشار اونفرت په وجه له کمونست گوند څخه استعفا اوهغه گوند یی منحل کړ
اونن ثابته شوه چی کمونستانو په روسیه کی دخلکو له نظره پټ‌رشاهانو په شان ژوند کاوه په داسی حال کی چی دروس عوام په ډیرو بدبختیو اخته وو .
له تغیراتو څخه یو هم دادی چی دروس پارلمان دهغه هیواد دجمهوریتونو دآزادی غوښتنی په څپو کی خپله تاریخی غونډه وکړه اوپارلمان ومنله چی دبالتیك دری هیوادونه له روس څخه مستقل اوخپلواك شی. دبالتیك دری هیوادونه څه دپاسه . ۵ کاله دروس دخاوری یوه برخه گڼل کیدله.
دغه راز پارلمان دروس دخاوری دټوټی کیدو دمخنیوی له پاره یو مشترکه اقتصاد اوسیاسی پلان تصویب کړیدی چی جمهوریتونه به دهغه په اډانه کی بیاهم سره متحد پاتی کیږی .
خوخبره داده چی نوردروسیی تر استعمار لاندی جمهوریتونه دروسانو استعمار نشی منلای دوی تراوسه پوری دکمونستانو استعماری دوره تیره کړه اوپس له دی روسان غواړی چی په بل نامه خپل استعمار پردوی دوامداره وساتی،خو جمهوریتونه په تیره بیا دمنځنی آسیا تر استعمار لاندی اسلامی ملکونه په دوی تیر نه وځی،په روس کی دکمونیزم دستم دماتی ړنگیدل په ډیرو سیمه ایزو اونړیوالو مسالو اثرواچوی چی یو له هغو څخه دافغانستان مسأله ده چی روسانو دافغانستان په مسلمانو خلکو جگړه تحمیل کړی ده .
په اوسنیو شرایطو کی علاوه پردی چی دروس یو والی له کلك خطر سره مخامخ دی بلکه په کابل کی دکرملین دکمونستانو لاس کینولی رژیم دوام هم په کلکه له گواښ سره مخامخ دی .
دروس کمونستانو په افغانستان کی له خپل نظامی اوسیاسی ماتی وروسته دکابل رژیم دنظامی او اقتصادی مرستو په جاری ساتلو سره دقدرت په گدۍ وساته اوکله چی نن په مسکو کی کمونستانو په کلکه ماته وخوړه اودتل لپاره دکمونیزم فلسفه اونظام له دنیا نه مخ په ورکیدو شوه نو منطقی -خوداده چی باید دکابل رژیم چی

(۳) مخ کی

کابل درگردابی ازقحط وگرسنگی

احمد ضیا «رحیمزي»

کودتای نافرجام ۱۹ اگست سال جاری درمسکو که به حق می توان انرا نکته ختم در زندگی منحوس وننگین مکتب وحشی کمونیزم نامید، ومطرح شدن چهره های مخالف تهاجم نظامی بر افغانستان، در سیاست روسیه در پهلوی اینکه هلهله وغلغله در سیاست جها ن برپا نمود، وضع سیاسی واقتصادی رژیم مزدور روسها در کابل رانیز سخت متاثر ساخت.

«بوریس یلتسن» رئیس جمهور فدراسیون روسیه که از مدت ها قبل مخالف ارسال کمك به رژیم کابل بود اکنون فرد با صلاحیت درحکومت بعد از کودتای «گورباچوف» تصورمی شود «یلتسین حالا نه تنها با ارسال کمك به کابل مخالفت می کند، بلکه عملاً گامی در مخالف رژیم کابل نیز بر می دارد ومخالفین ان (رهبران مجاهدین) رادعوت به بازدید ازروسیه می نماید، که این وضع خودنشاندهنده ازبی مهری وبی علاقگی وی بارژیم نجیب است.

اطلاعات رسیده ازکابل دراین اواخر حاکیست که نرسیدن کمك های اقتصادی روسیه به کابل، وضع رژیم مزدور را خیلی اشفته ساخته وقیم مواد خوراکی درشهر کابل به بلند ترین درجه ان رسیده.

طبق یك محاسبه غیرموثق حکومت روسیه کمك ماهانه بالغ بر ۳۵۰ ملیون دلار رابه رژیم مزدور خویش درکابل فراهم می نمودند که قسمت اعظم ان درموارد نظامی به مصرف می رسید ومقداری کمی ازان درموارد یگری همچو تهیه مواد ارتزاقی، ورفع سایر احتیاجات عامه بکاربرده می شد.

ولی بعد از کاهش شدید وحتی به اساس بعضی اطلاعات قطع کامل کمك های روسیه، رژیم دچار مشکلات شدید اقتصادی گردیده وحتی از اکفال نظامیان وملیشه های خویش نیز عاجز آمده است.

به اساس گزارشیکه اداره خبررسانی "میدیا" هفته گذشته به نشر سپرده فعلاً در شهر کابل قیمت یك قرص نان به ۵۰ افغانی رسیده، هر هفت کیلو پیاز ۱۵۰۰ افغانی وهر هفت کیلو کچالو ۴۰۰۰ افغانی قیمت دارد، واین در حالیست که بهترین عاید ماهوار یك کار مند دولتی یا یك غریب کار از ۵۰۰۰ یا ۶۰۰۰ افغانی بلند نیست.

به همین ترتیب گزارش های دیگری حاکیست که ادویه فروشی هاوشفاخانه های شهر کابل فاقد ادویه بوده

طبق یك محاسبه غیر موثق حکومت روسیه کمك ماهانه بالغ به ۳۵۰ میلون دلار را به رژیم مزدور خویش در کابل فراهم مي نمودند که قسمت اعظم ان درموارد نظامي به مصرف مي رسید

وعدهٔ کثیری ازمریضان در نتیجه بی دارویی وبی درمانی درشفاخانه های شهر کابل جان می دهند، چنانچه چندی قبل نیز مطبوعاتی جهادی در پشاور خبری مبنی بر صدور ادویه جعلی ازجانب کمپنی های ادویه سازی هند، وساختن ادویه جعلی توسط ادویه فروشان کابل رابه نشر سپرده بودند.

به همین منوال گفته می شود که فراهمی نفت وگاز ازجانب روسیه به رژیم کابل که از سالیان متمادی به اینسو جریان داشت اکنون بعد از کودتای ۱۹ اگست متوقف گردیده وفعلاً ترانسپورت درشهر کابل درحالت رکود قرار دارد.

گرچه نجیب (به قول خودش) این افترات رارد نموده ولی بر علاوه منابع دیپلوماتیك جهان درکابل ومسکو اشخاص انفرادی که دراین اواخر ازکابل به پشاور مراجعت نموده اند، این خبر ها را تائید نموده گفته اند که شهریان کابل دچار قحطی شدیدی اند، ورژیم مزدور نجیب که یگانه مرجع امید واتکایش همانا کمك های باداران روسی اش است ازاین ناحیه دست وپاچه گردیده، وازیك تعدادی کشورهای همنوع خویش همچو بلغاریا، ترکیه وهند طالب کمك های عاجل اقتصادی گردیده است.

طوریکه دیده می شود با قطع کمك های باداران روسی اش رژیم مزدور وبی حیثیت نجیب نه تنها نمی تواند فعلاً جهت بهبودی وضع اقتصادی درهم شکسته خویش کاری انجام دهد بلکه برای زمستان سرد کابل که فراخواهد رسید، نیزنمی تواند هیچ گونه کاری را انجام دهد.

وواضح است که زمستان امسال کابل، در حالیکه تیل، مواد خوراکی وسوخت برق وحتی ادویه هم وجود نداشته باشد برای شهریان بی بزاعت کابل دشواری های فراوانی رابدنبال خواهد داشت.

با وجوداینکه رژیم کابل

واضح است که زمستان امسال کابل درحالیکه تیل مواد اولیه سوخت برق وحتي ادویه هم وجود نداشته باشد براي شهریان بي بزاعت کابل دشواري هاي فراوان را بدنبال خواهد داشت

ازعدهٔ کشورهای منطقه طالب کمك گردیده ولی به اساس محاسبه کارشناسان بین المللی گفته می شود که باوجود رسیدن ان کمك ها، بازهم رژیم نمی تواند بر مشکلات اقتصادی خویش فایق اید.

اطلاعات رسیده از کابل همچنان می افزاید که بعد از انکه رژیم در جلب کمك از روسیه مأیوس گردید، و با بحران شدید اقتصادی وسیاسی روبرو شد، درطول یك هفته تقریبا (۱۰۰۰۰) تن افراد رژیم مزدور وشهریان کابل درخواست های خویش رابرای اخذ ویزای پناهندگی به سفارت هند در کابل سپرده اند.

این همه اطلاعات وگزارش هامی رساند که وضع رژیم کابل بیش از هر وخت دیگر درهم وبرهم است، ورژیم توان کنترول براوضاع راکاملاً ازدست داده است، کمك های منابع مختلف به این رژیم یا کاملاً قطع شده ویا شدیداً کاهش یافته است.

قطع کمك های روسیه به رژیم کابل وضع رقتبار اقتصادی ان رژیم بعد از کودتای نافرجام ۱۹ اگست در مسکو نشاندهنده صریح این امراست که رژیم مزدور ومنفور نجیب نه تنها محصول تجاوز خارجی به کشور ماویك رژیم تحمیلی است، بلکه یگانه علت بقاو دوام ان هم تااکنون کمك های وافروبی سروپای حکومت متجاوز روسیه است.

چنانچه می بینیم با قطع وکم شدن کمك هارژیم کابل در گردابی ازقحط وگرسنگی درگیر مانده که بیرون شدن ازان تقریباً محال به نظر می رسد، رژیم مزدوراکنون حتی توانایی اکمال ملیشه های بدنام گلم جم راهم از دست داده، ملیشه ها که بحیث ستون فقرات قوای نظامی رژیم مزدور مطرح بود درحال حاضر نجیب وداروسته مزدورش که چشم عنایت باداران روسی شان بر ایشان کور گشته جز تن دادن به موج های توفنده وخروشان قیام اسلامی ملت ما وسر تسلیم نهادن بر استان ملت مسلمان و مبارز ما، به نظر ماچارهٔ ندارد.

نجیب و رژیم منفورش در هر حالی ازبین رفتنی اند، چه بازور جنگ وچه در پهلوی جهاد از طریق تلاش های دیپلوماتیك اما انچه دراین گیر ودار بر مجاهدین مومن و قایدین محترم جهاد اسلامی ما لازم است اینست تابا توحید صفوف ضربات پیهم وهماهنگ خویش رابر رژیم در حال نزع نجیب سریع تر سازند چه اختلاف مواضع وناهمگونی درصفوف انها باعث طوالت وتکرار یقینی مصیبت های فعلی ملت مسلمان راغشته بخون ما می گردد وما علینا الی البلاغ

په روسیه کی دکمونیزم • • • •

په کمونستی افکارو اودکمونستانو په مرسته ولاړدی» باید له منځه لاړ شی.

په اوسنیو شرایطو کی دکابل رژیم له پاره دروس نظامی او اقتصادی مرستی بندی شوی دی اوپه دی لحاظ دکابل رژیم په داسی وخت کی له کلکو ستونزو سره لاس اوگریوان دی چی دژمی سوړ موسم رانږدی کیږی که څه هم دکابل رژیم مشران ناری وهی چی روسان به دوی یوازی پرینږدی خو ددوی له پاره دبیشرمی خبره داده چی له مړی ځلاهم دمرستی هیله کوی.

داوسنی وضعی ښځه خو داسی ښکاری چی نور روسان دافغانستان له مسالی اوپه کابل کی دیو کمونستی رژیم سره چندان مینه نلری، دکابل له کمونستی رژیم سره دروسانو مینه هله وه چی په کرملین کمونستانو حکومت چلاوه اودکابل رژیم موجودیت یی دروس دجنوبی سرحد لپاره گټورگانه نواوس هغه کمونستان اودکمونیزم امپراتوری دبشپړی ماتی په حال کی دی اودروس دجنوبی پولی اسلامی جمهوریتونه هم ځانله آزادی غواړی، نو دکابل رژیم بی خبره گوډاگیان لاهم دروس دمرستود دوام په هیله دی.

په اوسنیو روانو شرایطو کی هغه څه چی جهادی قوتونو ته لازم ښکی هغه دادی چی دحالاتو پوره سوچ وکړی اوپدی باندی ځان اگاه کړی چی په کومه طریقه دوی کولی شی دکابل رژیم شرمیدلی بقا ته دپای ټکی کیږدی، باید په ټینگه وویل شی چی په متفرقو حملو اوبرخوردونو، ناسنجول شویو پروگرامونواوانفرادی اقداماتو په اساس ددین او وطن ددښمنانو ماته چی په درنو اولویو وسلو سمبال دی تربوه وخته ځنډ منه کیږی، خوکومه لاره چی موږ ډیر ژر پر دښمن بریالی کولای شی هغه داده چی لومړی ټول جهادی قوتونه متحد شی اودپلان مطابق درژیم پر مورچو برید وشی اوددی په څنگ کی جهادی قیادتونه باید دراتلونکی اسلامی حکومت دجوړښت په اړه سالم اقتصادی سیاسی اوټولنیز پروگرامونه طرحه کړی.

نوښه به داوی چی داسی یو طرح هم موجوده‌شی چی په هغی کی دراتلونکی اسلامی حکومت دقیام لاری چاری اودافغانستان مسلمانو خلکو لپاره چی څوارلس کاله یی ډیری ربړی زغملی دی داسلام تر بیرغ لاندی یو بسیا او هوسا ژوند تامین کړای شی.

دکمونیزم ناکامی دگرډی نړی لپاره یو درس دی

بی، بی، سی دسنبلی ۱٦ مه:

دبی، بي، سی دخبر له مخی دجمعی په ورځ دامریکا تلویزیون دکرملین څخه مستقیماً دخپلو کتونکو لپاره یو پروگرام خپور کړ پدغه پروگرام کی دامریکایانو پوښتنو ته دروس جمهور رئیس گورباچوف اودروسي فدراسیون جمهور رئیس بورس یلتسین ځوابونه وویل گورباچوف دیوی پوښتنی په ځواب کی وویل: په روسیه کی چی کوم کمونستی نظام موجود ؤ ناکام شو اودغه ناکامی دگرډی نړی‌لپاره یو درس وگرځید، بورس یلتسین وویل کمونیزم ظاهراً ښکلی خو په حقیقت کی یوه توره فاجعه ده‌گورباچوف دتیری کودتا په باب وویل: دازموږ بد قسمتی وه لکار په کوم کوچنی ایالت یا هیواد کی پکار و له موږسره نه. په آخره کی یلتسین اوگورباچوف په گډه سره دهیواد څخه له بهر روسانو څخه غوښتنه وکړه چی بی له کومی ویری خپل هیواد ته راتلی شی څکه اوس دکی، جی، بی په لاس کی هغه وحشی اختیارات نشته.

دوگروپ ارتش هندي به اثر غلط فهمي ۳۵ تن یکدیگر را بقتل رسانیدند

سري نگر، ۱۸ سنبله:

اطلاعات رسیده ازکشمیر اشغالي حاکیست که دوگروپ ارتش هندي به اثر غلط فهمي ۳۵ تن همدیگر را بقتل رسانیدند.

اطلاعات حاکیست که یك قطعه ازارتش هندي اطلاع یافته بود که مجاهدین کشمیري پلان حمله برایشان رادارند. ودرشب هنگام عساکر قطعه مذکور بر گروپ دیگري از ارتش هندي که درنزدیکي انها مشغول نقل وحرکت بودند، اتش کشودند، بالاخره درنتیجه اتش متقابل ۳۵ تن از جانبین به هلاکت رسید وصد ها تن دیگر زخمي گردیدند.

گزارش حاکیست که وزارت دفاع حکومت هند امر تحقیقات درمورد این حادثه راصادر نموده است.

جهادي ادب

چې مورچال کړ نوپه ټول جهان کې مات شو
روس په چیغو په فریاد اوپه هیهات شو
دافـغـان غـازي دتـوري بـرکـت وُ
چې نسکور دکمونیزم سومنات شو

لنډه کیسه

دخپل کلي يادونه

سید شهریار

یواځې زه نه داټول ویده وُ اوښه په درانه خوب ویده وُ داستقلال تراخیستنې وروسته په موږ باندې دخوب څپې غالبې شوې وې اوپه اوږده خوب یې لاهو کړي وُ که موږ یوه به په موږ کې زموږ دراویښیدو کوښښ وکړ نو تور تمونه به یې دخپل ژوند ملګري کړل موږچې راپاڅیدو ، راپاڅیدو نو زما نه زموږ نه ډیره مخکې تللې وه ، موږ په خوشې بیابان پاتې وُ موږ خپلې خواو شاته هیڅ نه لیدل اوکه څه خارجې شیان مو لیدل هم، نودخپل ملك کاکا په لاس کې مو لیدل اوس خو ملك کاکا نشته ځکه مې ورته دکاکا ټکی استعمال کړ حاضر ندی ، په اوږده سفر تللی اودبیرته راتګه وتلی دی پخپل ژوند خویه یې په کراتو ، کراتو ویل چې باید دولس غریب خلك راته دکاکا ټکی استعمال نکړي ځکه دبرکلي دخان زامن هم راته کاکا وایي دکوز کلي دملکانو اولاده مې هم په کاکا یاده وي اوولسي خلك هم راته کاکا ووایي نو فرق څه شو فرق خوهسې هم ورك دی خوچې څه وُ هغه هم په سیند لاهو شو ، هرسړي خپل خپل ځای اومقام لري ولسي خلك باید دخان بابا اوملك صیب نه پرته بل څه راته ونه وایي ځکه داښکاره زما سپکاوی اوتوهین دی .

صیبه مهربانه ! دولس ووړ او زوړ به دورځې یوکرت خامخا دملك صیب ددیرې سلام کاوه اوملك ته به یې ځان ښوده که خپله به یې کرۍ ورځ ملا په کارو کې ماته شوي وه خومجبور وُ چې ځان په دیدار مورکړي اودملك ددیرې یوڅه ناڅه خدمت وکړي اوولې به یې نه کاوه دهرسړي په زړه کې داخبره ځای په ځای شوي وه چې باید هرسړی په دولتي کارو اوغټو کارو کې ګوتې ونه وهي اونه کومه ولسي شخړه پخپل سرهواره کړي ځکه هرسړی دغټو کارواوغټو خبرونه دی اونه هره خوله دملك دخولې په څیر خبرې کولی شي خلاصه داچې په هر کاراوهره خبره کې دملك صیب مشوره ضروري اولازمي ګرځیدلې وه .

په دیره کې ناست هریو کس به دملك صیب امرونو ته غوږ غوږ ناست وویو زه لیونی وم که لیونی نه وم نو کم عمری خو ضرورروم دابه مې دعقل خامي وه چې دملك صیب دخبرو او کړو وړو نه به مې زیات پام اومینه دملك صیب هغه خیالي چیلم سره وه چیلم نه وُ خاص دملك صیب معاون وُ مابه په زړه کې ویل خدای مکړه که ملك نه وي نو زموږ دپاره خو دغه چیلم ملك دی ځکه هیڅ کومه نیمګړتیانلري ؟ په نرۍ ونه پراخه خیټه اوښایسته ګلداره څرخه کی یی وړه دخاورې ګیټګۍ دنورو تماشو وه مابه هر وخت دسترګو دلاندې همدغې چیلم ته کاته په لیدو به یې نه مړیدم ، په زغرده خومې ځکه ورته نشو کتی چې نه ویل کیږې کوم خطر ورپیښ نشي ، دنظره نشي بیابه داسې چیلم دکومه کیږي دملك ددیرې رنګ پرې ساز دی ، کله کله خوبه مې په زړه کې دې ارمان غزونې وکړې چې خدای پاك (ج) دې وکړي ، چې ملك صیب نه وي اوزه راشم اوښه دنړدې نه دغه بختور اونازولی چیلم وګورم ، څومره غټو غټو خلکو لاس وریاندې وهلی دی .

چې ویده وُ نوهمدغه مې ارمان وُ چې نیمګړی پاتې شو ځکه هر وخت به دیره دخلکو ډکه وه یوه پریکړه به لانه وه شوې چې دبلې په تمه به خلك ناست وو .

ملك کاکا به چې وزګاروُ همیشه به یې خلکو ته نصیحت کاوه چې پام کوۍ دخپله لاسه ځان کندې ته ګذار نکړۍ که په اولادو مو دیني سبق ووایه نو بیا ترې دپښتو اوغیرت تمه مکوۍ ځکه په هر کار کې به شرعه لټوي !! اوکه مکتب ته مو ولیږل نوبیا یې مخ مه وینی دزوی نه به درته پلار جوړشي ځانته پلرونه مه پیداکوۍ اوکه زما اولاده یې وایي خو مجبور دي دترونو دزامنو اونورو ترپورانو سره سیالي برابروې کنه نو هیڅ حاجت ورته نلرم هرڅه ډیر تیر دي دګره وۍ مروۍ کوم کا غذ نیم چې وي هغه هم دولسوال هغه کشر زوی راځي اولیکي یې اوس نو زما مجبوریت څه دی ؟

ددومره لوی بحث نه مخکې به یې دچیلم یو کش راښکلې وُ اودبل دپاره به یې چې ترڅو ځان جوړاوه نو ساعت نیم به تیر وُ .

ددیرې هغه خوارکی مزدور کچکول به ورته په ټیټه ملا ولاړوُ اوچیلم به یې دمرۍ نه داسې کلك نیولې وُ لکه دسردښمن ډدی وخت کې به زما زړه ترخولې راغلی وُ اوله ډیره قهره به مې ماغزه خوټیده خو هیڅ مې نشو کولای مابه له ځانه سره ویل زوروره ! چیلم څوك دومره کلك نیسي لکه داتا چې

په پنځم مخ کې

ادبی اصطلاحات

سید محي الدین هاشمي

ادبی فنون : دااصطلاح په عامه توګه دادب په ټولو اصلی اوفرعی څانګو اطلاق کیږی .

دادب پوهانو له نظره ادبی فنون ډیری څانګی لری چی هره څانګه یی بیا په څو برخو ویشل شوی موږدلته یوازی دځنو دنوم په یادونه اکتفاء کوو .

۱- دخطابی فن
۲- دشعر فن
۳- دنقد فن
٤- دداستان لیکنی فن
٥- دکتاب لیکنی فن
٦- دمقاله لیکنی فن
۷- ورځپاڼې لیکنی فن
۸- دترجمی او ژباړنی فن
۹- دادبی تحقیقاتو فن
۱۰- دادبی تخلیقاتو فن

او... (ادبیات وتعهد دراسلام ٥٦ مخ)

ابجد : په ادبیاتو کی په ځانګړی توګه په شعر کی دیوی ادبی اصطلاح په توګه استعمالیږی .

دابجد توری هماغه دالفبا توری دی چی دځانګړو فصولو له مخی یی ترکیب موندلی دی په دی توګه چی :

ابجد ، هوز ، حطی ، کلمن ، سعفص ، قرشت ، ثخذ ، اوصظغ.اوحساب یی په ترتیب سره په دی ډول دی :

الف ۱ ، ب ۲ ، ج ۳ ، د ٤ ، هـ ٥ ، و ٦ ، ز ۷ ، ح ۸ ، ط۹ ، ی ۱۰، ک ۲۰ ، ل ۳۰ ، م ٤۰ ، ن ٥۰، س ٦۰ ، ع ۷۰، ف ۸۰ ، ص ۹۰ ، ق ۱۰۰ ، ر ۲۰۰ ، ش ۳۰۰ ، ت ٤۰۰ ، ث ٥۰۰ ، خ ٦۰۰ ، ف ۷۰۰ ، ض ۸۰۰ ، ظ ۹۰۰ ، غ ۱۰۰۰

دابجد حساب ته جمل هم وایی .

شاعران اکثرا معماوی دابجد په تورو راوړی اوپه دغو معماووکی زیاتره خاصو نومونو ، تاریخی پیښو اومسایلو ته اشاره کیږی دبیلګی په توګه دعلی خان دابیت وګوری:

معما می ده اووه سوه داسـم
لاهم کم دی که دوه واره ورله لام لاړ

په پنځم مخ کې

کاخ ستم

مولوی فقیر محمد «خنجری»

درغم اندوه وهجران نوبهـار مـا گذشت
موجهای اشك وخون درسبزه زار ما گذشت
ماندیدیم یکشبی ارام رادر ایـشان
بادتندی درحریم شاخسار ما گذشت
مانخوردیم میوه باغ حسـین خویشتن
اژدهای سرخ دوران درد یار ما کذشت
سوختیم انـدر میـان اتـش نمرود یان
شعله هایش برسر این برگ وبار ما گذشت
اب حیوان در گلوی مردگان کانداختند
اولین سرچشمه اش از ابشار ماگذشت
گرچه خوردیم خون دل اخر رسیم بر پرنیان
از فراز کهکشان گردو غبـار ما گذشت
لرزه برکاخ ستم نعره ما افگـنده است
دوش شمعی پر شراری ازمزار ما گذشت
رهروان کاروان مابه پـر سـومی روند
خیل زاغ وکرگسان درلاله زار ما گذشت
خنجری بزم سخن با خون دل رونق گرفت
یاد میهن در قلوب داغـدار ما گذشت

دکتاب معرفي — ابدي ژوندي

دکتاب نوم : ابدی ژوندی
لومړی ټوک
لیکنه او ټولونه :سیدمحی الدین «هاشمی»
خپروونکی : دحضرت سلمان فارسی (رض) دغنډ فرهنګی څانګه
دچاپ نیټه : ۱۳۷۰ هـ ش - سرطان
دچاپ شمیر : ۳۰۰۰
دمخونو شمیر :۱٤۲

ابدی ژوندی دهغه کتاب نوم دی چی په دی وروستیو وختونو کی دالحاج مولانا جلال الدین حقانی ترقیادت لاندی دحضرت سلمان فارسی (رض) دغنډ دفرهنګی څانګی له خوا په ډیره ښه قطع او صحافت چاپ اوخپور شویدی .

کتاب تر کتاب پیژندنی او فهرست وروسته په څلورم مخ کی دلیکونکی او راټولونکی په سریزه پیل کیږی چی په کی یی دغنډونو په ښه د منظمو جهادی مرکزونوپر اهمیت اودغه اثر په راټولونه اوخپرونه خبری کړیدی ، اوبیا دکتاب په ۹ مخ کی دسلمان فارسی (رض) دغنډ لنډه پیژندنه ترسرلیك لاندی ددغه غنډ پر تشکیلاتو، اوجهادی فعالیتونو په هکله لنډ په زړه پوری معلومات وړاندی شوی دی اوبیا په یوولسم مخ کی دغنډ شهیدانو دپیژندګلوۍ سلسله پیل کیږی اوتر ۱٤۲ مخ پوری دوام کوی .

په دغه کتاب کی ټول ٦٥ تنه شهیدان معرفی شوی او هڅه شویده چی په ډیره لنډه توګه هریو شهید لوستونکو ته وروپیژنی اوضمناً په غنډ کی دهغوی دشمول دنیټی ، په بیلو بیلو سیمو کی دجهادی فعالیتونو دسرته رسولو فتحو اوسوبو اودشهادت دنیټی ځای په هکله په زړه پوری معلومات لری .

په پای کې ددی اثرخپرونکی او لیکونکی ته ددغه ارزښتناك اثر دچاپ اوخپریدنی مبارکی وایم اودلا بریالیتوبونو دعا ورته کوو.

****
****

کشتمند هنوز هم از عقیده منحرف خود منصرف نشده است

هدایت الله مجددي

نشریه اخبارهفته چاپ کابل در یکی از شماره های اخیرخود که اکنون بدست رسیده است مصاحبه تحریری خبرنگارش رابا سلطان علی کشتمند کمونست نواتشه وسابق صدراعظم رژیم کابل که درین تازگی ها ظاهرا ازحزبش استعفا داده نشر کرده است درین مصاحبه خواسته یاناخواسته به خیانت های علنی وپشت پرده این کمونست فعال شیم کونست کابل انگشت گذاشته شده است که ما اختصار انرا بخاطر افشای هرچه بیشتر چهره های منحوس انهای که رژیم کمونست کابل رامی چرخانند نشر می کنیم .

سوال : اقای کشتمند شما از عضویت حزب وطن استعفا دادید شما که طی سی سال یکی از رهبران وموسسین حزب دموکراتیك خلق وحزب وطن امروز باپست های عالی حزبی ودولتی بوده اید ، چگونه وبه یکباره گی تصمیم گرفتید تاراه تان راعوض کنید ؟

جواب : من به یکباره گی به استعفا ازحزب وطن تصمیم نگرفته ام پس از تفکر عمیق طی چند روز یکه در اتحاد شوروی اقامت داشتم واخیرابه کشور باز گشته ام وبابرخورد ها یکه طی این روز ها در کابل مواجه شدم ، باین نتیجه منطقی رسیدم که از عضویت درحزب وطن ومقامات ان استعفا بدهم .

من به یکباره گی تصمیم نگرفته ام که راه خود را عوض نمایم همچنان این مطلب قابل بحث است ، که من راه خود راعوض کرده باشم.

سوال : دراستعفا نامه شما ازسیاست بازی ها ، توطیه ها اقدامات تهدید کننده وتضیقات صحبت شده است ایا ممکن است درمورد توضیح بیشتری ارایه نمائید ؟ همچنان ایا معنای این گفته ها اینست که شماباراه حزب اختلاف داشته اید ویابا کدام شخص معین ؟

جواب : دراستعفا نامه خویش من سیاست بازی ها ، برخورد های خصمانه وتبعیض طلبانه توطیه گری ها وانتقام جویی ها راکه بنابرروحیه سلطه جوی بعضا مورد عمل قرار میگیرد بطور عام وازلحاظ اصولی تقبیح کرده ام ، ولی از فشارها ، تعصبات وتبلیغات سؤکه علیه خود من سازمان داده شده است تذکر داده ام البته اینها کار افراد وبرخی ادارات معین است .

سوال : انقلاب ثور ؟ در افغانستان به نظر بسیاری ها یك اشتباه تاریخی ویا یك فاجعه بود وراه رابرای مداخله خارجی وجنگ هموار نمود شما گفته اید که در اشتباهات رهبری سهیم نبوده اید ولی شما که تصدی طولانی ترین دوره ، صدارت افغانستان رادردهه اخیربه عهده داشته اید نقش شخصی خود را در انچه اشتباهات رژیم دانسته اید ،

> من به یکبارگي تصمیم نگرفته ام که خود راعوض نمایم همچنان این مطلب قابل بحث است ، که من راه خود راعوض کرده باشم

چگونه ارزیابی می کنید ؟ ایا شما هیچ نقش درمورد نداشته اید وبه نظر شما مسوول اشتباهات کیست؟

جواب : من در دوران کار خویش بحیث صدراعظم افغانستان عمدتا مصروف اداره امور اجتماعی واقتصادی کشور بوده ام ودر تصامیم سیاسی حزب بحیث یك فرد نقش موثری نداشته ام .(چه دلیل دروغین واحمقانه)

سوال : نظر شما درمورد تجاوز نظامی روسیه به افغانستان که تقریبا ده سال دوام کرد وکشور مارابه بربادی کشاند چیست ؟

جواب : من هنگام ورود قوای نظامی اتحاد شوروی به افغانستان در زندان پلچرخی بودم (ولی بعد از رهایی بارباراز تجاوز عساکرروس سپاسگزاری نموده است که اسناد آن درنشرات رژیم کابل موجود است .)

سوال : طی مصاحبه های چند روز اخیر شمابا لحن صمیمانه درمورد حزب وحدت اسلامی وسایر نیروهای اهل تشیع مستقر درایران صحبت نموده به این نیروها واهل تشیع وملیت هزاره در اینده کشور نقش خاص قایل شده اید ، برعلاوه برخی نظریات شما که در مصاحبه ها ارایه شده با نظریات احزاب نه گانه مشابهت نزدیك دارد ، ایا این هابدان معنی است که ارتباطات شما با احزاب اهل تشیع سبب ترك حزب وطن شده وایا اینکه شما به این جنبش ملی ومذهبی پیوسته اید ؟

جواب : من نه تنها نسبت به نقش حزب وحدت اسلامی وسایر نیروهای اهل تشیع مستقر درایران بلکه نسبت به نقش تمام نیروهای دیگر که درپاکستان میباشند ،درصورتیکه درپروسه تامین صلح درکشور وحل سیاسی مسله افغانستان شرکت نمایندا همیت قایل هستم ولی در رابطه به نقش حزب وحدت اسلامی دراین پروسه درمیان هزاره ها و مجموعه تشیع افغانستان باید گفت که از اهمیت بخصوص برخودار میباشد .

سوال : سخنان وشایعاتی درمورد سوء استفاده شما دردوران صدارت تان وداشتن حساب های پولی درخارج کشور وجود دارد ، برعلاوه گفته میشود که تقریبا تمام اعضای خانواده تان رابا تقرر درپست های عالی دراستان وپس ازخروج قوای روس به خارج کشور فرستاده اید ، اگر مقامات قضایی چنین چیز هایی رادراینده علیه تان مطرح کند موضع شما چی خواهد بود ؟

جواب : من در ابتدا سوالی رامطرح مینمایم که چرا از جهات مثبت ونتایج کارمن طی ده سال حرفی در میان نمی اید ولی از سخنان وشایعاتی که ساخته وپرداخته ذهن چند تن افراد معلوم الحال میباشد یاد اور میشوند .

من در دوران صدارت خویش سؤ استفاده نکره ام وهیچ حساب پولی در داخل وخارج کشور ندارم ، من حاضرم حساب بدهم ودیگران نیز باید حساب بدهند ، ازمیان اعضای خانواده ام اخیرا برادرم بحیث سفیر در ایتوپیا تعیین گردیده است ودوبرادرم درخارج کشور برای دفاع دکتورای علمی خویش مشغول اند وفرزندانم در اتحاد شوروی تحصیل مینمایند ، تعجب در اینجا ست که درد ومورد فوق وموارد دیگرمشهود چرا از دیگران سوال نمیشود ؟

(واقعا هنوز هم از قدرت سؤ استفاده ننموده است !!؟

برادران وفرزندان سایر مردم افغانستان را جبرا به عسکری بخاطر جنگ بابرادران مسلمان شان می فرستند ، اما برادران وفرزندان شانرا برای سفارت اخذ شهادتنامه دوکتورا وتحصیلات عالی به خارج می فرستند تادرانجا هم تحصیل کنند ، ودختر انش شوهر روسی وپسرانش خانمهای روسی بگیرند،طبق اظهارات تعدادی ازانهای که قبلا دروزارت هوانوردی ملکی ایفای وظیفه می نمودند کشتمند صرف در هنگام فروش طیاری دی ، سی ۱۰ ده ملیون دالر اختلاس عملی نموده است .

دخپل کلي ...

نیولی دی زه نو څه خبروم
خوچی کله به کچکول غریب
ملانیغه کړه اودبل غټ خیتي
مخې ته به ورته نوملا به یې
څلور پنځه تقه سر په سر
وکړل اوخپله ملا به یی بنه
شاته کږه کړه چې ستوماني
یې وخیژي.
دکودتا نه وروسته خو بیا
ملك صیب دبلې هوا سره
خبرې کولې ددیندارو خلکو
اوملایانو سره خوبې سر
داوله ورانه وه اوس نوورته
بنه چانس په لاس ورغی
ددولت دوسلې نه یی کور ډك
کړ ځکه ده به ویل چې
اشرار !!! اول زما اوبیا
ددولت دښمنان دي.څه
اسلامي انقلاب ؤچې ځنو
ظالمانو ته یې په رڼا ورځ
داسمان ستورې وښودل ملك
دانقلاب مخې ته بندونه اچول
خو خبرنه ؤچې دې انقلاب
ته غرونه نه ټینګیږي غټې
غټې پاچاهۍ له منځه وړې
پاتې خو لاستا داوه اته کهو
خاني اوملکي !
اوس نو داسلامي انقلاب
موجوهونکو څپو ولس داوړده
اودرانه خوبه راپاڅولی ؤ په
ټولو کی تازه ولولې اونوې
جذبې راټوکیدلی وې هر یوه
دستوماني غزونې کړې وې
وینو جوش پیداکړی ؤ
اوډیرې سړې وینې په جوش
راغلی وې اوس به دسهار
وینبو وږمو دهرلوري نه مغزو
ته دپاڅون٪اتلولی
اومیړنتوب درس ورکاوه .
اوس نو هغه پخوانی
کچکول نه ؤ یو بنه تکړه
قوماندان ؤ اوس یې هر
لوري ته دمیړنتوب اوازې
تللې وې دظالم مخه یې نیوله
اودمظلوم ملګرتیا یې کوله
دهرچا نه وراندې دخپل
مستبد ملك مخې ته ودرید
اودملکۍ اوخانۍ دناروا
وماڼیو بنیادونه یې له بیخه
ونړول اوس په دغه ځای کې
نه هغه دیره شته اونه هغه
زما دخوښی چیلم ، دملك
قلانده دخاورو اولوټو یو غټ
ډیرې دي اوهغه کوډلی چې
بادو به ورانولی نن دخپل
همت سره یو ځای ددښمن
مخې ته دغره په شان ولاړې
دي دیوې الوتکی بمبار لا
ځمکې ته رسیدلې نه وې چې
بله دمخامخ غره دڅوکې نه
رابنکاره شي اوخپل زړه
داوریه باران تش کړي .
اوس هم چی زه هر چیرې
یم زماسره دخپل کلي یاودنه
ملګري وې یوه شیبه مې هم
دزړه څخه نه وځي اوس چې
موږ ویښ شو اوس زموږ ګډ
اوشریك یو ارمان دی دوطن
دازادۍ ارمان.

ادبي اصطلاحات ...

بیان:

لغوی معنی یی ایضاح ، موندل اوڅرګندول دي اودادبیاتو په اصطلاح هغه علم دې چې دهغه په وسیله کولی شو خپل مطلب په بیلو بیلو طریقونورو ته څرګندکړو. یاپه بله ژبه بیان هغه علم دی چی دهغه په وسیله په دی بنه او ژر پوهیدای شو چی دمقصد دافادی اوتعبیر لپاره کومه طریقه واضح اومناسبه ده اویا دبیان په ذریعه کولی شو یو مضمون په بیلو بیلو عباراتو بیان کړو. دبیان علم له دریوو‌شیانو څخه بحث کوی :

الف : تشبه ب : مجاز ج : کتابه

چی هریو په راتلونکی کی دالفبا ترتیب دراغلیو اصطلاحاتو په ډله کی په لنډه توګه درپیژنو .

بلاغت :

بلاغت دمعانی علم یوه اصطلاح ده چی دحال له اقتضا اوغوښتنو سره دکلام مطابقت ته بلاغت ویل کیږی .

یاپه بله ژبه دوینا فصاحت اورساوالی ته بلاغت ویل کیږی

بلاغت دوه شرطونه لری :

۱- فصاحت ۲- دموقع مناسبت

بدله :

دپښتو داولسی شعر یو فورم دی چی ځینی ادب څیړونکي یې اولسی غزل هم بولي.

داولسی شاعرۍدغه فورم له ډیری پخوا مودی راهیسی په پښتو شاعرۍ کی په لیکلی اوشفاهی بڼه موجود دی اوډیرو باسوادو اوبی سوادو اولسی شاعرانو په دغه برخه کی خپل شعری ځواك ازمویلی دی.غزل دپښتو داولسی شاعری خوږ ، مقبول ، اوپه زړه پوری برخه ده چی په ځانګړی جوش اوجذبه ویل کیږی .

بګتی:

بګتی هم دپښتو داولسی شاعرۍ یو ځانګړی فورم دی په خاصه جذبه او جوش سره ویل کیږی . بګتۍ دڅاربیتو په شان یو سرلری چی په عمومی ډول یو بیت وی ددواړو مصرعو قافیه یی برابره وی اودهر بند وروستی مصرع یی له سر سره په قافیه کی یو شی دی چی دهر بند په پای کی تکراریږی .

په افغانستان کې دکې ، جي ، بي ورانوونکي فعالیتونه

داکسا ، کام ، خاد، واد - تشکیلات ، فعالیتونه او جنایات

۲۲مه برخه

عبدالوکیل

د۱۳۵۷ هـ ش کال دثور ۷ نیټې څخه نیولې بیا دروسانو تر شرمیدلې ماتې او تیښتې پورې دیو نیم ملیون څخه زیات افغاني مجاهدین اومسلمانان دروسانو اودکې ، جي ، بي په خونخوارو لاسونو جوړو شووډلو (خلقیانو ، پرچمیانو اوددوی نورو اجنټانو) په واسطه سره شهیدان شول اودادشهادت بهیر دوام لري روسانو دیوې خوا په افغانستان کې له افغانانو سره په لس کلنه مستقیمه جګړه کې سخته اقتصادي ضربه ولیده اودبلې خوا په بین المللي اړخ کې لانورهم رسوا شول او په دې پوه شول چې دافغانستان مجاهدین او مسلمان ولس چې دایمان اوحق په زور جنګیږي ، تابع کول ، اودغه دغیرتونو اوننګونو خاوره په زور سره تر تسلط لاندې راوستل ناممکن کار دی نو په داخلي اوبهرني سیاست کې یې دفریب اوغولوني نوي استعماري سیاست (ګلاسنوسنت اوپروسترویکا) پیل کړ.

په افغانستان کې دروسانو دګلاسنوست اوپروسترویکا نوې دراماتیکه صحنه کې دکارمل رول ضعیف ښکاره شو نوددې خلا دډکولو په خاطر نوي لوبغاړي ته اړتیا پیداشوه ، کې ، جي ، بي ددې کار لپاره دخاد رئیس نجیب چې ددوی پخوانی ازمویل شوی وفادار اجنټ و رامنځ ته کړ اوکله چې کې ، جي ، بي د ۱۳۵۸ هـ ش کال څخه راپه دې خوا په مستقیم ډول سره په افغانستان کې دخاد (واد) استخباراتي دستګاه جوړوله نجیب په ټولو امکاناتو سره دکې ، جي ، بي همکارۍ ته خاضر اوپه افغانستان کې دکې ، جي ، بي په فعالیتونو کې دلومړۍ درجې همکارانو اومعتمدینو له جملې څخه حساب شو نوځکه یې په ۱۳۶۵ هـ ش کال کې دکارمل پرځای دکابل مزدور رژیم په راس کې مقرر کړ اوکارمل یې دصحې مشکلاتو په نوم له ورکړل شوې قدرت څخه وغورځاوه اوبیا یې وروسته دهغه تقاعد اعلان کړ .

کله چې په ۱۳۶۷ هـ ش کال کې دافغانستان څخه دروسانو نظامي قواو لومړۍ برخې وتل پیل شول دکابل په حضوري چمن کې دروسانو اودکابل مزدور رژیم ګډه غونده جوړه شوه په دې غونډه کې کارمل هم حاضر و او کله چې یوه بهرني ژورنالیست له کارمل څخه پوښتنه وکړه چې ایا په رښتیا ستاسو دناروغۍ په وجه دخپلو وظایفو څخه لیرې کړای شوی یاست ؟ کارمل په ځواب کې ورته وویل چې نه خیر یعنې داصحیح نه ده اما په همدې جریان کې دکابل رژیم دهغه وخت دفاع وزیر نظرمحمد دکارمل مخې ته راغی او ورته ویې ویل چې په پلان کې دستاسو سره مرکې ته ځای نه دی ورکړل شوی په نتیجه کې کارمل چوپ اوغلی شو .

نجیب زیاتې هلې ځلې وکړې ترڅو وکولای شي دافغانستان مسلمان ولس ته دنوي تیپ چل اوفریب ورکولو له لارې دکې ، جي ، بي ، داهدافو په ترسره کولو کې فعال رول ولوبوی خو دافغانستان مجاهدو

> کله چې کې ، جي ، بي د۱۳۵۸ هـ ش کال څخه راپه دې خوا په مستقیم ډول سره په افغانستان کې دخاد (واد) استخباراتي دستګاه جوړوله نجیب په ټولو امکاناتو سره دکې ، جي ، بي همکارۍ ته حاضر او په افغانستان کې دکې ، جي ، بي په فعالیتونو کې دلومړۍ درجې همکارانو څخه حساب شو.

اومسلمانو ولسونو دهغه داسلام اووطن ضد کړه وړه پیژندلي وونو ځکه یې هیڅ ډول اعتبار پرې ونکړ .

سره ددې چې دنجیب درامنځ ته کیدو په وخت کې ظاهراً دنجیب پر ضد اودکارمل په طرفدارۍ دیو شمیر ځوانو له خوا دمظاهرې په بڼه مخالفت څرګند شو اوبیا وروسته په ۱۳۶۹ هـ ش کال کې کودتا ته ورته سناریو هم پیل شوه خو داټول په افغانستان کې دکې ، جي ، بي دهغو هلو ځلو یوه برخه ده چې ترڅو هم په اوسني مرحله کې دافغانستان په مسله کې ورڅخه پخپله ګټه کار واخلي اوهم په اوږده راتلونکې کې په افغانستان کې دنفوذ امکانات ولري .

دافغانستان څخه دروسانو نظامي قواؤ تیښته دامعنا نه درلوده اونه یې لري چې روسانو دافغانستان په کورنیو چارو کې دلاسوهنې څخه ډډه وکړله اویا به په راتلونکې کې ورڅخه پرهیز وکړي .

که چیرې روسان افغانستان ته دروسي نظامي قواو بیا راتګ پخپله ګټه و بولي نو روسان به داکار سل ځلې بیا هم تکرار کړي خوځرنګه چې اوس روسان په دې باندې ترپخوا ښه پوه شول چې که چیرې دوی ډیر لوړ نظامي قدرت هم ولري اما دنظامي قواؤ په واسطه سره دافغانستان داشغال امکانات نلري اوپه اوسني پړاو کې دکې ، جي ، بي له لارې خپل نفوذ اوتسلط ترټولو پخپله ګټه ګڼي ، همدا علت دی چې په اوسني وخت کې سره ددې چې روسان په افغانستان کې نظامي وسله وال پوځونه نلري خو کې ، جي ، بي دکابل رژیم دلاس مستقیمه اله ګرځولي اودواد په اړوند یې خپل استعماري اوشیطاني فعالیتونه جاري ساتلي دي .

روسانو په افغانستان کې داسې پلانونو عملي کولو ته اقدام وکړاو دوام ورکوي چې نه یوازې دافغاني ټولنې دعقیدې،خصوصیاتو،روان اوټولنیزو روابطو سره سمون نه خوري بلکې اصلاً دبشریت انساني فطرت او انساني اړیکو په مقابل لورې کې قرار لري .

دافغانستان مسلمان ولس درښتیني اسلام ، خپلواکۍ ، ترقي اوعالي اخلاقو غوښتونکی اوپه اوسني پړاو کې دافغانستان په اسلامي ټولنه کې دامتحان شویو جنایتکارانو اومنفورو اشخاصو اوډلو له قدرت څخه غورځول (دخلق اوپرچم ډلې اودروس نور پیژندل شوي اجنټان) اودافغانستان پر اسلامي خاوره کې داسلامي حکومت جوړول غواړي اودحق په دې لار کې یې بې شمیره ځاني اومالي قرباني ورکړې خو روسان اوددوی مزدوران دافغاني مسلمانانو ددغوټولو عالي اوحقه حقوقو پرضد دهیڅ ډول بربریت څخه ډډه نکوي اولانورهم دافغانستان مسلمان ولس ته دځاګانو په کندلو لګیا دي نو ځکه دابیا هم په ویلو ارزي چې دروسانو تیښته ددوی مهرباني ، دافغانانو سره خواخوږي اوداستعماري اهدافو او کړو وړو څخه ډډه کول نه دي بلکې خاصو عواملو اوشرایطو دې کارته مجبورکړل .

سره ددې چې دروسانو په تیښته کې دافغاني مسلمانانو دایمان اوحق زور بنسټیز اوټاکونکی رول ولوباوه خو لاندینیو عواملو دروسانو ماتې ګړندۍ کړله .

۱- دافغانستان ولس دکلکې اسلامي عقیدې درلودل او ورسره په څنګ کې دافغانستان داسلامي خاورې دخپلواکۍ احساس پیاوړتیا .

۲- څرنګه چې کمونستي ایدیا دبشري فطرت ضد اساس لري نو پخپله روسانو اودخلق اوپرچم ډلو نشول کولای چې حتی پرخپلو ځانو یې عملي کړي اودوی پخپله دخپلو ځانو څخه بې زاره وُ اودي .

۳- دمجاهدینو لوړ جګړه ایزمورال .

٤- دمجاهدینو په ګټه اراضي .

۵- دروسانو سره دافغانستان دمسلمانانو کینه او ددوی څخه نفرت دټولو استعماري قوتولو په نسبت زیات قوي وُ اودي .

٦- په ایران اوخصوصاً پاکستان کې دافغاني مجاهدینو، مهاجرینواو مسلمانانو طرفدارو اودوستو دولتونو موجودیت (په دې اخیرو کې دمجاهدینو په مقابل کې دایران دولت سیاست بله بڼه غوره کړه)۰

۷- دمجاهدینو او مهاجرینو سره دنړۍ مسلمانانو اوغربي هیوادونو مرستې .

۸- دروسانو رکود اوسکون ته نږدې اقتصاد .

۹- روسانو ته په عمل کې تاریخي تریخ درس ورکول اودځان،جهان اوافغانانو نسبي رښتیني پیژندګلوي .

۱۰- په ملي اوبین المللي اړخونو کې دروسانو اصلي استعماري سیاست لاافشا کیدل اوپه نوموړي سیاست باندې دنوي غولوونکي پردې (ګلاسنوست او پرسترویکا سیاست) اچول .

۱۱- دپاکستان اوایران سره دافغانستان اوږده سرحدي پوله .

> **که چیري روسان افغانستان ته دروسي نظامي قواو بیاراتګ پخپله ګټه وبولي نوداعمل به سل ځله بیاهم تکرار کړي.**

۱۲- روسانو اودکابل رژیم دهغو امکاناتو اووسایلو څخه چې په لاس کې یې درلودل مناسبه ګټه وانه خستلای شوه روسان او دخلق اوپرچم ډلې دشرایطو سره سم دلازمې دولت اودولت دارۍ څخه عاجز وو.

۱۳- دروسانو په واسطه سره دداسې دستګاه (دکابل رژیم) جوړول چې کم ترکمه په بین المللي سویه پرې سودا اوتجارت وکړای شي .

۱٤- دمجاهدینو په واسطه روسانو ته اقتصادي ضربه ورکول .

روسان په دې هڅه اوتلاش کې دي چې خپل استعماري اودولسونو دښکیلاك اوزبیښاك لارې چارې نورې

غولوونکي اودګلاسنوست اوپروسترویکا ترپردې لاندې دولسونو دتیرایستنې نوې څیره رامخې ته کړي خو ترټولو مهمه مسله داده چې:

ترڅو پورې دروسانو زنګ وهلي نظامي ، ماشین مات اوتوتي نشي ترهغو به افغانستان او نړۍ دریږونو اوویرونو سره لاس په ګریوان وي .

په نتیجه کې باید وویل شي چې روسانو اواستخباراتو یې دځو پیړیو راهیسې دامیرامان الله خان تر زمامدارۍ پورې دافغانستان په بربادۍ اوورانولو کې خپله برخه اخیستې ده او د۱۹۱۹م (۱۲۹۸ هـ ش) کال څخه بیا د۱۳۵۷ هـ ش کال دثور ۷ نیټې ورانوونکي کودتا پورې یې دافغانستان دمسلمان اوتوریالي ولس دبربادۍ اومصیبتونو په رامنځ ته کولو کې اساسي رول لوبولی دی خو دثور کودتا څخه بیا ددوی تر مستقیمې نظامي مداخلې اوبالاخره تر ننه پورې دافغاني ټولنې اسلامي امت دټولو رنځونو ، کړاوونو ، دټولو مادي اومعنوي ارزښتونو دبربادۍ اوزموږ دګلشن وطن افغانستان دورانولو عامل (کې ، جي ، بي) یاروسان اوددوی مزدوران (دخلق اوپرچم ډلې اونور اجنټان) دي.

دافغانستان دټولو مجاهدینو ، مهاجرینو اومسلمان ولس اسلامي اوایماني وظیفه ده چې ددغو داسلام اووطن اصلي دښمنانو پرضد دژوند تر وروستي سلګۍ پورې په کلك ، ایمان اوسپنیز هوډ اوعمل سره مقابله اوجهاد وکړو .

لوی خدای دې موښ اداوکامیاب لره .

« پای »

په هرات کې درژیم درې نظامي کنډکونه فتح شول

هرات ،میډیا :

دکوټې څخه دمیډیا نمایندګي دهرات ولایت څخه رپوټ ورکوي چې مجاهدینو په ګډه سره دهرات ولایت په شمالي خوا دشرروی پولې ته نږدې دګلران په ولسوالۍ کې دکابل درژیم د قواوو درې کنډ کونه دټولو وسلو او مهماتو سره مجاهدینو فتح کړي او (۱۵۰) تنه یې له کورنیو سره دکابل رژیم له ظلم نه ژغورلي .

درپوټ مطابق مجاهدینو درژیم دقواو یوشمیر سنګرونه ویجاړ کړي او درې توپونه (٦)میله زیګویو (۱٤) میله ګرینوف (۱۱) میله (پي کا) ماشیندار (۱٤) میله سل ډزي (۲۲٦) میله کلاشنکوفونه (۲۱) میله (ټي ټي) تمانچې او یوه پایه مخابره د (۵) عرادوفعالوفوځي لاریو او یوزیات مقدار نظامي او لوژستیکي مهماتو سره په ولجه نیول شوي .

زموږ مجاهدینو چی دخوست په ستره فتحه . . .

مرکه کوونکی : نجیب الله

پوښتنه : فعلاً ستاسی دغونډ مجاهدین په کومو کومو ځایونو کی ددښمن سره په وسله وال جهاد بوخت دي ؟

ځواب : زموږ مجاهدین فعلاً په گردیز باندی دحملی دپاره دنورو مجاهدینو سره په تیاری بوخت دي اوهلته زموږ عمومی قرارگاه په سروبی‌ولسوالی کی موقعیت لری. پوستی یی په مختلفو ځایونو کی لکه دسیدکرم غونډۍ کلی سره نږدی او دمیلن زاوو په شاوخوا کی پرتی دی چی په دغو پوستو کی زموږ دغونډ څلور تولی مجاهدین ځای په ځای شوی دي .

پوښتنه : آیا دخوست په ستره فتحه کی ستاسی مجاهدینو برخه درلوده که یی درلوده نوکوم کوم ځایونه یی فتحه کړی دی اوڅومره سپکی ، درنی وسلی اووسیلی مو په غنمیت نیولی دی ؟

ځواب : دخوست په فتحه کی الحمد لله داافتخار زموږ غونډ ته په خاصه توگه حاصل دی چی دخوست لومړۍ کمربند زموږ مجاهدینو مات کړی دی او دملحد رژیم څخه یی په اول ځل دملیزو پوسته،قشیم تاپو ، گگر پوسته ، اوښی تاپو اوزیړونو پوسته تر لاسه کړل داذکر شوی پوستی موږ دخدای (ج) په مرسته په یوه ورځ کی فتحی کړی دی په همدغه ورځ مو دزاړه هوایی ډگر په لومړی دفاعی خط کی په مورچو جوړولو پیل وکړ، دلته ترپنځو ورځو پوری ددښمن له خوا زموږ پر مجاهدینو تعرضونه کیدل خو زموږ مجاهدینو خپل پر مختگ ته دوام ورکړ اونور مخ په وړاندی ولاړل .

دغنیمت په باب باید ووایم چی اکثر وخت په جهادکی زیات مصروف خلك له غنمیت څخه محروم پاتی کیږی ، ولی بیا هم زه داویلی شم چی که موږ دنور چاپه نسبت غنیمت کم نیولی وی خو فتحه مو زیاته کړیده. دی کی شك نه شته چی موږ خپله مجاهدینو ته دعملیاتو په وخت همدا قومانده ورکړی‌وه چی دغنمیت په وجه خپل پر مختگ سست نه کړی نو په دی اساس زموږ غنمیت ډیر کم وو. تر لاسه شوی غنیمت دلته ستاسی دمعلوماتو لپاره درښیم :

سپکه وسله ۱۵۰ میله
راکټ ۱۰ میله
زیگویك ۲ میله
شلکا ماشیندار ۱ میله
صحرایی توپونه ۳ میله
ټانك ۱ عراده

پوښتنه : دخوست تر فتحه کیدو وروسته اوس دنومړی سیمی امنیت څنگه دی ، ستاسی مجاهدین دامنیت په ساتلو کی څه رول لری ؟

ځواب :- څرنگه چی مامخکی وویل زموږ مجاهدین اکثره په گردیز باندی دحملی کولو دپاره تیاری نیولو کی مصروف دی خو بیاهم موږ دخوست دآزادی شوی سیمی دامنیت له پاره هم مجاهدین ورکړی دی دنوروغونډونو او جبهاتو په څیر زموږ مجاهدین په تخته بیگ ، هوایی ډگر اودخوست بازار کی دیره دی اوالحمدلله دخوست امنیت ډیر ښه ساتل شوی دی اودټولو تنظیمونو جبهات اوغونډونه ورته پوره پاملرنه کوی .

پوښتنه : ویل کیږی چی مجاهدین په گردیز باندی دعمومی حملی لپاره چمتوالی نیسی آیا ستاسو مجاهدین به په دغو عملیاتو کی برخه ولری ؟

ځواب : مامخکی ذکر کړه چی زموږ مجاهدینودگردیز په شاوخوا کی دحملی دپاره تیاری نیولی دی‌دخدای (ج) په فضل لکه څرنگه چی زموږ مجاهدینو دخوست په نیولو کی زیات افتخارات گټلی ، داسی به انشاالله دگردیز په فتحه کولو کی زموږ شملی لوړی وساتی .

پوښتنه : دخوست فتحی دمجاهدینو په روحیه څه تاثیر وکړ ؟

ځواب : دخوست فتحه یوه لویه کارنامه ده داخو طبیعی خبره ده چی مجاهدین دیوی پوستی دفتحی اواز واوری نو زړورتیا اودجهاد سره جذبه یی لاپسی زیاتیږی کله چی خوست فتحه شو او مجاهدینوله نږدی‌ولیدل چی دښمن څومره په لوړه سویه تکتیکی پروگرامونه دخوست ددفاع دپاره په کار اچولی وو بیاهم الله (ج) هغه مجاهدینو په لاس فتحه کړ نو دغه کاردمجاهدینو دعقیدی دتقویه کیدو سبب شو او جذبی یی قوی اووینی یی په رگونو کی په جوش راغلی اوپه مقابل کی ددښمن دقواو مورال ټیټ اووارخطا شول .

پوښتنه : که دسنگر مجاهدینو ته څه پیغام لری ؟

ځواب : څرنگه چی مجاهدینو دخپل ایمانی قوت په زور ددنیالوی او مغرور طاغوتی طاقت روس مات او په ډیری بی شرمی‌یی‌له خپل هیواد نه وشاړه باید داخپل ایمانی قوت په کار واچوی په وحدت اویووالی‌دروس مزدوران هم رانسکور کړی مجاهدین باید خپل منځی اختلافات ختم کړی ، ترڅو دا خپل وطن دقرآن کریم په نورانی اوالهی قانون روښانه اوښایسته کړی .

ومن الله التوفیق

> دباطل پرضد حق دسنگر له نومیالیو مجاهدینو په ډله کي چي وياړلي کارنامي يې‌زموږ دجهاد اواسلامي انقلاب دتاريخ زرين اوروښانه پاڼونه وي ، يو هم نوميالي قوماندان حاجي نيك محمد دي .
> نومړي په قوم ځاځي اودپکتيا ولايت داريوب ځاځي اوسيدونکي دي پوره اووه‌کاله يې ديوي جبهي مسووليت په غاړه درلود کله چي په ۱۳۶۹ هـ ش کال الحاج مولانا جلال الدين حقاني دابوجندل‌دغونډ په نوم يو جهادي مرکز جوړ کړ ، حاجي صاحب نيك محمد خان يې دقوماندان په توگه وټاکل شو چي فعلاً هم دنومړي غنډ قوماندان دي دجهاد هنداري خبريال له نومړي سره مرکه کړې چې درنو لوستونکو ته يې وړاندي کوو .
> «اداره»

> دغنیمت په باب باید ووایم چي اکثره وخت په جهاد کي زيات مصروف خلك له غنيمت څخه محروم پاتي کيږي ولي بيا هم زه داويلي شم چي که موږ دنورچاپه نسبت غنيمت کم نيولي خو فتحه مو زياته کړي

> دخوست په فتحه کي الحمدلله داافتخار زموږ غونډ ته په خاصه توگه حاصل دي چي دخوست لومړي کمربند زموږ مجاهدينو مات کړي دي

موږ په افغانستان کي څه ولیدل ؟

په تیر پسي :

په افغانستان کي دنيول شوو روسي عسکرو خاطري

دعوض الدين صديقي ژباړه

ځواب : هو ! موږ دلته روسی پوځیان ولیدل اونور مو دهغوی په مقابل کی دسیمی دخلکو مقاومت ولیده اویس .

پوښتنه : ته افغانستان ته کله را ورسیدلی او دمجاهدینو لاس ته څه ډول ولویدی ؟

ځواب : د۱۹۸٤ کال دمی میاشتی په ١٤ زه د١٤٠ نورو پوځیانو سره یو ځای لوگر ته راواستول شوم زما ملگری اکثره روسان و و دمنځنی اسیا دمسلمانانو څو تنه هم وو موږ یی دکابل غربی خواته دلوگر سیمی ته ولیږلو زموږ مرکز دپل علم په سیمه کی ؤ دمی په ۱۱ مه زه دمرکز څخه لری یوی ویالی ته دلمبیدلو لپاره لاړم ، مجاهدینو زه ونیولم ، په دی وخت کی له ماسره وسله نه وه .

پوښتنه : دروسی پوځ مورال څه ډول ؤ ؟

ځواب : ډیر خراب ، هغوی تول همت له لاسه ورکړی ؤ هغو پوهیدلی ووچی هغوی به هیڅکله پر افغانانو غالب نشی په دی خاطر هغوی دچرسو اونورو نشیی موادو په‌څکولو پیل کړی ؤ، هغوی به یواځی دویری په خاطر ځانونه نشه کول .

پوښتنه : دخپل راتلونکی په باب تاڅه فیصله کړی ؟

ځواب : زما زړه غواړی چی دملگرو ملتو له لاری سوئزرلینډ ته لاړ شم .

پوښتنه : ایا ته روسیی ته تگ غواړی ؟

ځواب : هیڅکله نه ، ماته خپل ژوند گران دی .

اندری سرگی نیکولاتیویچ : مجاهدینو چی کوم روسی پوځیان نیولی په هغو کی داسی هم وه چی په جهادی مرکزونو کی داسلام اومسلمانانو نیکی او ښیگڼی ولیدی مسلمان شول خو ځنی بیا پکی داسی هم و چی اسلام یی ونه مانه ، دراستوف سیمی اوسیدونکی اندری سرگی نیکولاتیویچ هم له دی جملی ځنی دی ، خو عجیبه خبره داده چی هغه داسلام دنه منلو سره سره روسی ته دتگ چمتوالی نلری هغه وایی چی دمجاهدینو سره یو ځای شوم ښه ژوند می وپیژانده اواوس هغه دارامی له منځته وړل نه غواړی .

داندری سرگی پلارنیکولای ایوان ویچ دتریکتر ډریور دی او موریی په یوه زراعتی فارم کی شودی لویشلی ، په ۱۹۸۱ کال سرکی «سدیدنشن شکولا » نومی ښوونځی کی دمنځنی زده کړو ترسرته رسولو وروسته پوځ ته وغوښتل شو ، دنورو ځوانانو په دول ده هم په پوځ کی ددندی سرته رسولو نه کرکه لرله خو مجبور ؤ چی ورته حاضر شی .

تریوه کال پوری هغه ته پوځی زده کړه ورکړ شوه ، په دی دوران کی هغه اور غورځونکی وسلی ، ټانک چلونه اودهغه جوړول زده کړل دروزنی په وخت کی ورته ویل کیده چی دوی افغانستان ته لیږی له اندری څخه وپوښتل شو چی افغانستان ته په راتگ سره ښې تاثرات څه دی ؟

هغه په ځواب کی وویل :

«موږ ته به ویل کیدل چی موږ دخپل نړیوال مسؤلیت دسرته رسولو او مظلومو افغانانو سره دمرستی لپاره ورځو په دی خاطر حتمی خبره وه چی زموږ په زړونو کی به دمسؤلیت احساس او کمزورو سره دمرستی جذبی موجونه وهل ».

د۱۹۸۲ کال دمی په میاشت کی اندری سرگی افغانستان ته راولیږل شو دهغه سره په سلگونو نور ځوانان هم ووهغه ته دجلال آباد په سیمه کی دنده وروسپارل شوه اندری سرگی اوس په آزادی شوی سیمی کی دیٔ هغه دیوه ترجمان په وسیلی دپوښتنو ځوابونه په ډیر احتیاط ورکول ، ددی سره سره هغه ومنله چی هغه افغانستان ته دبهرنی پوځونو سره جنگیدو ته راغلی ؤ خو کله چی له هغه څخه وپوښتل شول چی ایا تاسو په افغانستان کی بهرنی پوځیان ولیدل ، هغه ددی پوښتنی ځواب رانکړاوسگرت یی کش کړ ، دځان دنیول کیدو دجریان دبیانولو په ترڅ کی هغه وویل :

ما څلور میاشتی په جلال آباد کی په پرله پسی توگه دمجاهدینو پر خلاف عملیاتو کی برخه اخیسته ، یوه ورځ زما دټانك یوه پرزه خرابه شوه اوله کاره ولویده ، زه دهغه پر جوړیدو بوخت وم خو کار لږ ځنډ شو ، یو صاحب منصب راغی اوپه دی خاطر چی ما ټانك زر تر زره جوړ نکړ راسره په جنگ شو ، زه ورسره په غصه شوم او تندی خبری مو سره تبادله کړی صاحب منصب چی لاړ زه پر خپلو کړو خپه شوم ، دخپگان په حالت کی ما کار پریښود ازادی فضا ته راووتم ، اودکابل سیند تر غاړه کیناستم دلته زه دنورو پوځیانو سره مخکی هم راغلی وم ، ما خپلی پښی اوبو ته ورکوزی کړی اوبوی تیږی باندی کیناستم زه په همدی حالت کی ناست وم چی دوه تنه له شا راغلل او سمدستی یی ونیولم ما داسی احساس کړه چی ښایی هغه صاحب منصب به زما دنیول کیدو امر صادر کړی وی خوکله چی هغوی مخکی راغلل اوپرخوله یی دتکبیر نعری جاری وی ، زه وپوهیدم چی هغه مجاهدین دی زه هغوی خپل قوماندان ته بوتلم ، اوتراوسه له هغوی سره یم ».

«نوربیا»

> د۱۹۸۲ کال دمي په میاشت کي اندري سرگي افغانستان ته راولیږل شو دهغه سره په سلگونو نورځوانان هم ؤ هغه ته دجلال اباد په سیمه کي دنده وروسپارل شوه

دافغانستان دقضيې دحل ...

له بلې خوا دتيرې دوشنبې په ورځ دملگرو ملتونو سرمنشي ښاغلی پريزدېکوېار پخپله دافغانستان دقضيې اوبو شمير نورو مسايلو دحل وفصل دلارو چارو دپلټنې په هيله دايران اسلامی جمهوريت مرکز تهران ته سفر وکړ اوددغه هيواد له جمهور رئيس ښاغلی هاشمی رفسنجانی سره تر لېدنې کتنې اوپر موضوعاتو دخبرو اترو برسيره نوموړی په پام کی لری چې دپاکستان داسلامی جمهوريت له جمهور رئيس ښاغلی غلام اسحق خان سره چې دراتلونکې پنجشنبې په ورځ دايران دحکومت په رسمی بلنه هغه هيواد ته ځلور ورځنی سفر کوی ، ليدنه کتنه وکړی،دافغانستان قضيې داړوندو مسايلو په هکله ورسره خبری اتری وکړی.همدارنگه دځينو څرگندونو له مخی داسی ښکاری چې په ايران اوپاکستان کی دمجاهدينو ځينی ميشتی ډلی به ددری اړخيزو خبرواترو ددويم پړاو دپريکړو له مخی يو گډهيئت وټاکی ترڅو دملگرو ملتونو له سرمنشي سره دقضيې دسياسی حل په اړه خبری وکړی اوددغو روانو سياسی هلو ځلو په وړاندی ورته دمجاهدينو دريځ او غوښتنې څرگندی کړی.داچې ددغو خبرو اترو لړۍاو روانی سياسی هلی ځلی به کومی مطلوبی نتيجې ته ورسيږی اوکه نه اوچاته به يې څومره گټه ورسيږی او ....دا هغه پوښتنې دی چې دوخت په تيريدو اودحقايقو د راښرسيره کيدو په نتيجه کی پخپله ځوابيدای شی .

که له يوی خوا دسياسی حل په اړه پخبرواترو اوهلو ځلو کی دښکيلو خواوو دملگرو ملتونو سرمنشي ، ايران ، پاکستان او روسانو مزدور رژيم او ....له څرگندونو څخه داسی ښکاری چې ددوی خبری اتری اوهلی ځلی کاميابی دی اودافغانستان دقضيې دسياسی حل په اړه يې دومره انکشافات اوپرمختگونه کړی چې په دی نږدی وختونو کی به يې گټې او نتيجې ټولو ترېوالو ته په ډاگه شي.

خوله بلې خوا ځينی جهادی تنظيمونه اوځواکونه په دی شکل له دغو خبرو اترو سره خپل کلك مخالفت څرگند وی اودجهاد پرضد يې دشرق اوغرب گډې توطئې اودسيسې بولی چې غواړی په دغه رنگ اونيرنگ په افغانستان کی دمجاهدينو په لاس ديو اسلامی حکومت دجوړيدو مخه ونيسی.دغه جهادی ځواکونه دافغانستان دقضيې سياسی حل ترهغه وخته ناممکن او غير مؤثر بولی ترڅو چې په کابل کی دروسانو مزدور رژيم مشراودهغه ډله ټپله داقتدارنه لاس په سرنشي ، يايي اسلام اومسلمانانو ته ځان نه وی تسليم کړی اويا دخپل بادار غيږی ته نه وی تښتيدلی اوروسانو دهغه له رژيم سره خپلی مرستی نه وی قطع کړی نه جگړه بنديدای شی اونه دافغانستان دقضيې سياسی حل امکان لری .

دغو جهادی ځواکونو دافغانستان دقضيې په اړه دملگرو ملتونو دپنځه فقريزه طرحی په وړاندی مخالفت ښودلی اوهغه يې په کلکه رد کړې ده، دوی دقضيې دحل وفصل په باب له روسانو سره مستقيمو خبرو اترو ته حاضر دی،خوپه دی شرط چې هغوی له خپل مزدور رژيم سره دمرستی اوملاتړنه لاس واخلی .

ترکومه چې خبره دجهاد دسنگر په اتلو مجاهدينو پوری اړه لری ، مجاهدين هيڅکله هم داسی طرحه نشی منلای چې دهغې له مخی ددوی قربانی بې ځايه ځی اوحيثيت ته يې صدمه ورسيږی ، دوی په دی هوډمن دی ترهغه چې خپل هغه ستر هدف ته نه وی رسيدلی چې دوی دهغې له پاره دادومره ستونزی وزغملی ، مالی او ځانی زيانونه يې وگالل او ....خپل وسله وال جهاد ته به ادامه ورکوی اوپه دغه لار کی به داسلام او افغانستان ددښمنانو هيڅ ډول توطيې اودسيسې ددوی مخه‌ونه شی نيولی اونه يې له اصلی اواساسی مسير او هدف څخه راگرځولی شی .

نوله همدی امله اوس ترپخوا زيات دخپلو جهادی سنگرونو په توحيدولو اوپياوړی کولو بوخت دی ، اوددښمن په لويو پوځی مرکزونواودرژيم ترواك لاندی تأسيساتو باندی دسترو سترو حملو اوبريدونو لپاره چمتوالی نيسی او امکان لری ډير ژر دمتحدو عملياتو دغه ځواکمنه لړۍ پيل شی.

په دی حساسو شيبو چې زموږبرميال مقاومت او پاڅون له ډيرحساس اوسرنوشت ټاکونکی پړاو څخه دتيريدو په حال کی دی داسلام اومسلمانانو دښمنان په دی هڅه کی دی چې زموږ دبری مخه ونيسی اومقاومت مو له اصلی مسير څخه منحرف کړی‌ښو ځکه کله دسياسی حل او کله دپخلاينې اوروغې جوړی ترپردې لاندی دخپلو شومو توطيو اودسيسو دعملی کولو لپاره هلی ځلی کوی.که دهلته اودلته دخبرو اترو اوسياسی حل په تمه خپل جهادی سنگرونه ساړه کړواوله وسله وال جهاد نه لاس واخلو‌نو دابه موږ خپل اسلامی انقلاب اوستر ارمان سره ديوی نه جبيره کيدونکې خطا او جفا په توگه تلقی شی .

اوپه اوس وخت کی به زموږ ډير لږ غفلت اوبې پروايی داسی ناوړه عواقب ولری چې گټلی وقاراو حيثيت به موله خاورو سره خاوری کړی .

وما علينا الاالبلاغ

له دوو لکو څخه زيات روسی يهوديان اسرائيلو ته ورغلل

تل ابيب ، دسنبلی ۱۷ مه :

دنړيوالو خبری منابعودخبر له مخی دروسيې څخه فلسطين ته ديهوديانو دليږلو لړۍروانه ده چې ديوه کال په دوران کی په اسرائيلو کی دوو لکو اونوی زرو زياتوالی راوستی دی .

خبر ځای زياتوی چې تيرکال داسرائيلو دنفوسو شمير ۴۷ لکه او او ۱۰ زره وه خو سږ کال يې شميره تر ۵۰ لکو پوری رسيدلی ده چې يکی ۴۱ لکه يهوديان ۶ لکه او ۹۵ زره مسلمانان يو لك شل زره عيسويان او ۸۵ زره دنورو اديانو پيروان شامل دی.تير کال دنورو هيوادونو څخه دوه لکه او ۳۰ زره يهوديان اسرائيلو ته راوستل شوی ووخو سږکال يواځی دروس څخه دوه لکه اوپنځه زره داسرائيلو دملاتړ لپاره راوستل شوی دی .

هيئت تحرير ترنظر لاندي

مکاتباتي پته

پوست بکس (۱۰۳۳)

يونيورستي تاون پيښور

تيلفون : ...

بمبارزمان وحشيانه رژيم کابل درولايت بغلان

بغلان ميديا :

يك منبع جهادی به (ميديا) گزارش داد که جيت های بم افگن رژيم کابل طی دوهفته گذشته مراکز مجاهدين ومناطق مسکونی رادرمنطقه دشت کيلگی ولسوالی دوشی و منطقه نرخاب ولسوالی خنجان هدف بمبارد قرار دادند که درنتيجه ۱۰ نفر از اهالی شامل اطفال زنان ومردان شهيد و ۲۲ نفر شديداً زخمی گرديده اند.

طبق خبردراين بمباری وحشيانه رژيم کابل ده هامسکونی اهالی تخريب ومقدارزيادی از حاصلات زراعتی ازبين رفته است .

طبق يك گزارش ديگر همين منبع مجاهدين يك عراده تانك زرهی رژيم کابل را توسط مين ضد وسايط نقليه در منطقه دوراهی ولسوالی خلم ولايت سمنگان درجوار ولايت بغلان منفجر نموده وسرنشينان ان درين حادثه به هلاکت رسيده اند.

دشاه فهد ځانگری استازی دمجاهدينو له مشرانو سره وکتل

پيښور ، دسنبلی ۱۶مه :

دخپروشويو خبرونو له مخی دسعودی عربستان پاچا ملك فهد خاص استازی عبدالله المحسن الترکی په پيښور کی دافغانی مجاهدينو دمشرانو سره وليدل اودکتنې په اوسنيو پيښو يې ورسره خبری اتری وکړی .

خبرونه وايی دغه ډلی دجمعی په ورځ په يوه ځانگری الوتکه کی پاړه چنار ته ولاړل او هلته يې دحزب اسلامی په الفتح مرکز کی له انجينر حکمتيار سره وليدل.تردی ليدنی کتنی وروسته دغی ميلمنی ډلی په پيو کی داسلامی اتحاد دمشر استاد سياف سره هم ليدل کتل وکړل.خبر ځای زياتوی چې نوموړی ډلی دشنبې په ورځ په پيښور کی دجمعيت اسلامی له مشر استاد ربانی سره دنوموړی په دفتر کی پداسی حال کی وليدل چې داستاد ربانی څخه پرته استاد سياف ، مولوی صاحب محمد يونس خالص،ددعوت الی القران والسنت نوی امير مولوی سميع الله اودحزب اسلامی دسياسی چارو رئيس قطب الدين هلال هم موجود ؤ .

ويل کيږی پدغه ليدنه کتنه کی دکتنې په اوسنی موضوع بحث وشو اوگردو مشرانو په گډه سره په کنړ کی دامنيت په راوستو اود انجينرحکمتياراوشهيد مولوی جميل الرحمن په منځ کی دشوو پريکړو په ټولو مادو دعمل کولو پر موضوع ټينگار وکړ .

دبالتيك جمهوريتونوپه رسميت پيژندنی لړۍ روانه ده

نکوسيا ، دسنبلی ۱۸ مه :

دنړيوالو خبری منابعودخبر له مخی مصر ، جاپان ، چين او بنگله ديش هم دبالتيك دری جمهوريتونه استونيا ، لتويا ، او لتوانيا په رسميت وپيژندل .

دجاپان صدراعظم توشيکی کائفو تيره ورځ دخپلی کابينې يوی رابللی غونډی ته پخپله وينا کی وويل : موږ دری واړه جمهوريتونه دآزادو هيوادونوپه توگه وپيژندل.همدارنگه تيره شپه دپاکستان دبهرنيو چارو وزارت يوه وياند اعلان وکړ چې دپاکستان حکومت دبالتيك جمهوريتونوآزادی په رسميت وپيژندله.

په جوزجان کي د خلقيانو او پرچميانو ترمنځ نښتي

جوزجان ، دسنبلي ۱۸مه :

دجوزجان ولايت دجهادي منابعو له قوله په رارسيدلي خبرونو کي ويل شوي چي پدي ولايت کي دکابل دکمونست گوند ددوو مخالفو ډلو خلقيانواوپرچميانو ترمنځ خونړي نښتي شوي چي ددواړو اړخونو ۵۰ تنو دوژل کيدو او ۷۰ تنو دټپي کيدو سبب شوي ، دغه نښتي ديوه بل دلوړتيا نه دمنلو په سبب پيښي شوي .

څلور تنه کشميری مجاهدين شهيدان او۲۳ تنه هندی پوځيان ووژل شول

مظفر آباد ، دسنبلی ۱۷ مه :

دنړيوالو خبری منابعو له قوله ويل شوی چې دنيول شوی کشمير په څو جلا جلا عملياتو کی څلور تنه کشميری مجاهدين شهيدان او۲۳ تنه هندی پوځيان ووژل شول .

خبر ځای زياتوی چې دبوری کدل سرينگر په سيمه کی دحرکت المجاهدين يوی ډلی دلاسی بمونو اوکلاشينکوفونو څخه په استفادی سره دهندوانو پريوه پوځی پوسته بريد وکړ چې په نتيجه کی يې ٤ هندی پوځيان مړه اويو زيات شمير ټپيان شول.پدغه نښته کی دوه تنه مجاهدين دشهادت لوړ مقام ته ورسيدل .

دباره مولا په پټن نومی کلی کی هم ددواړو خواوو ترمنځ سخته نښته وشوه چې په نتيجه کی يې څلورهندی پوځيان مړه اودوه تنه مجاهدين شهيدان شول- همدارنگه په يو لړ نورو جگړو کی دهندی پوځ زيات شمير غړی ووژل شول.رپوټ زياتوی چې دښتو لړۍ روانه ده او هندی پوځيانو ته دسر او مال درانه تاوانونه وراوړيدلی دی .

په کابل کي دوه ټانکونه ويجاړ شول

کابل ميډيا:

په پيښور کی دمجاهدينو يوخبر ځای دکابل له ولايت نه (ميډيا) ته رپوټ ورکړی چې مجاهدينو دده سبز پرولسوالی او شاوخوا پوستو ددرندو وسلو ډزی وکړی چې دهغی په اثر دکابل رژيم يوه پوسته ويجاړه او يوشمير عسکر او مليشه له منځه تللی دی .

رپوټ زياتوی چې مجاهدينو پدی جگړه کي درژيم دقواو دوه عرادی زغره وال ټانکونه اودوه پوځی لاری سوځولی اوڅرژيم قواو ته يې درانده مالی تاوانونه اړولی دی .اودمجاهدينو څخه دری تنه په شهادت رسيدلی دي.

دکندهار په بيلابيلو سيمو کی دمجاهدينو بريالی عمليات

کندهار ، ميډيا :

په کويټه کی دميډيا نمايندگی دکندهار له ولايت نه رپوټ ورکړی چې مجاهدينو ددغه ولايت پر هوايی ډگر باندی ددرندو وسلو څخه په استفادی سره يو لړ بريالی عمليات ترسره کړل چې دهغی په نتيجه کی دملحد رژيم يو صاحب منصب ، ډيرشمير عسکر مړه‌اته تنه ټپيان او يوه پوځی لاری‌دسپرليو سره له منځه تللی دی .

خبر ځای په يوه بل رپوټ کی زياتوی چې مجاهدينو دکندهار پر فرقی بريد وکړ چې دهغی په اثر درژيم يو شمير عسکر او مليشه مړه ، دوه تنه ټپيان او يوه پايه دمخابری دستگاه ويجاړه شويده .

همدارنگه مجاهدينو په کندهار کی دکوتل بابا صاحب پر پوستو يولرعمليات ترسره کړل چې په نتيجه کی دکابل رژيم دقواو څخه يوه پوسته فتح پنځه تنه عسکراو مليشه مړه اويو شمير نور ټپيان شوی دی .

دغه شان دکندهار نه په يوه بل رپوټ کی ويل شوی چې مجاهدينو دکندهار په هوايی ډگر باندی دتوپونو په ډزو سره په يوه بريد کی دهوايی ډگر يو زرهپوش دسپارليو سره دمنځه وړی او هم ۱۱ تنه دهوايی ډگر دځارنی مليشه او عسکر يې وژلی او ژوبل کړيدی .

خبر ځای همدارنگه زياتوی چې مجاهدينو ديوی حملی په ترځ دلشکرگاه مرکز کی دکمونست رژيم دقواو يو شمير سنگرونه ويجاړ کړی او ۱۵ تنه عسکر يې پکی وژلی اويو قوماندان يې د ٤ تنو عسکرو سره سخت ټپيان کړيدی .

جمهوريت هاي تاجکستان اوازبکستان اعلان ازادي کردند

مسکو ، ۱۸ سنبله :

دوجمهوريت آسيايي ميانه روسيه (تاجکستان وازبکستان) ازادي خود را اعلان نمودند ، طبق خبررآديو صداي امريکا پارلمان تاجکستان ازادي اين جمهوريت رابه اکثريت اراء منظور نموده است همچنيان ازبکستان نيز قانون آزادي آن جمهوريت را نافذ نموده است

درقانون گفته شده که جمهوريت ازبکستان حق بر قراري روابط سفارتي باکشورهاي جهان رادارد.